# POMEGRANATE PRODUCTION

# د انارو تولید

Prepared by
University of California at Davis, and
The International Foundation of Hope (IF HOPE) under subcontract with
USAID's Alternative Development Program – Eastern Region

ترتیب او جوړونه: په Davis کې د کلیفورنیا پوهنتون او دامریکا د متحده ایالتونود نړیوالې پرمختیایي ادارې د ختیزې سیمې دمتبادل پرمختګ پروګرام فرعي قراردادي د (IF HOPE) نړیواله مؤسسه

Ketabton.com

These training materials have been made possible by the generous support of the American People through the United States Agency for International Development (USAID). The contents of this document are the sole responsibility of the authors and do not necessarily reflect the views of USAID, The United States Government or Development Alternatives, Inc.

دا روزنیز مواد د امریکا دمتحده ایالتونو دنړیوالې پرمختیایي ادارې له لارې د امریکا دخلکو د پراخې مرستې په وسیله راټول شوي دي. ددې کتاب د ټولو محتویاتو مسؤلیت یوائې او یوائې د کتاب دلیکوالانو پر غاړه دی او په هیڅ ډول د USAID، دامریکا دحکومت او د DAI د کمپنۍ د نظر څرګندوی نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

دا چې د کرنې په وده کې د ترویج د کارکوونکو نقش ډېر مهم دی له همدې امله د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت هم دا اړتیا ولیدله چې خپل د ترویج مدیران او مامورین په داسې مهارتونو او پوهه سنبال کړي چې وکولی شي د هغې کرنیزې ټولنې اړتیاوو ته ځواب ووایې چې په تدریجي توګه د مغلقو تولیدي سیسیتمونو پر لور پرمختګ کوي.

د انارود تولید په هکله په ساحه کې کاریدونکی دا لارښود کتاب- او ددې سلسلې نور کتابونه باید تل د ترویج له مامورینو سره موجود اوسي. دا لارښود کتاب د افغانستان د ختیزې سیمې دمشهورو مېوو له ډلې څخه د انارو د اصلي ځای، تجارتي استعمال، تولیدي سیستمونو او بازارموندنې په اړه تفصیلي معلومات لري. یاده دې وي چې انار د یو شمېر نورو مېوو تر څنګ ښه ثابت شوی بازار لري.

که څه هم په دې کتاب کې موجودې ځینې لارې چارې به زمونږ دهېواد د کرنې په برخه کې نوې وي خو دا ټول هغه څه دي چې که چېرې مونږ وغواړو افغانی کرنیز سیستم یوه داسې نوې پړاو ته ور داخل کړو په کوم کې چې کرنیز تولیدات د بازار له غوښتنو سره سم وي، نو باید چې لاندې ذکر شوې لارې چارې په پام کې ونېسو.

مونږ تاسې ته بلنه درکوو چې دیوې داسې تاریخي پروژې یوه برخه شئ چې له مخې یې د افغانستان دودیز کرنیز سیستم د نوو کرنیزو لارو چارو په خپلولو او عملي کولو سره په یو عصري کرنیز سیستم بدل کړو، له بزګرانو سره مرسته وکړو چې پر بازار ولاړ اقتصاد کې بریالیتوبونه ترلاسه کړي او ددې ټولو نه مهمه دا چې کرنه د یو کاروبار په ډول خپله کړي. ددې ټولو موخو د ترلاسه کولو لپاره د بزګرانو او د ترویج دمامورینو ترمنځ د داسې نېږدې اړیکو منځ ته راتلو ته اړتیا ده چې په کې مونږ دترویج مامورین خپل ځانونه د بزګرانو زړونو ته د خبرو له لارې نه، بلکه هغوی ته دعملي لارښوونو او زده کړو له لارې نېږدې کړو.

دا لارښود کتاب دهغو مرستو او موادو دسلسلې یوه برخه ده چې د ختیزې سیمې دمتبادل پرمختګ پروګرام په ملاتړ او مرسته چمتو شوي دي.

محمد حسین صافی، د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریس

محمد اسمعیل دولتزی، د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریس

الحاج محمد محصل، د کنړ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریس

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE
ALTERNATIVE DEVELOPMENT PROGRAM—EASTERN REGION ADP/E

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلــړ


۱. انار : سرچېنه يې او چېرته کرل کېږي........................................ ۵
۲. انار څه ډول مېوه ده ؟........................................................ ٦
نوعې يا ډولونه :...................................................................... ۷
د مېوو په اړه مهم مشخصات :........................................................ ۱۰
د انارو د کرلو لپاره کومو شيانو ته اړتيا ده ؟........................................ ۱۱
۳. په افغانستان کې انارپه کوموځايونو اوکوم ډولونه يې کرل کېږي؟............... ۱۲
۴.د باغ پلان ګوزاري:............................................................ ۱۲
د ډول يا نوعې غوره کول............................................................ ۱۲
د موقعيت غوره کول او تيارول:...................................................... ۱٤
له يخ وهنې څخه ساتنه :............................................................. ۱٤
د خاوري تيارول ، سمون او سره ورکول :............................................ ۱۵
د کرلو څخه مخکې د سرې ورکول : Pre-planting Fertilization :................ ۱۵
د نيالګيو کېنولو ډيزاين يا Planting design:..................................... ۱٦
۵. د باغ جوړول: .................................................................. ۱۸
د قوريې ونې او دهغې کرل :......................................................... ۱۸
اوبه:.................................................................................. ۱۹
د نويو کېنول شويو نيالګيو روزل او ښاخه بري :.................................... ۲۰
د انارو د ونې د ښاخه بري عمومې دودونه :.......................................... ۲۱
د روزنې سيستمونه Training System:............................................. ۲۳
د ښاخه برۍ ډولونه:.................................................................. ۲٤
۶. د باغ اداره او تنظيم ORCHARD MANAGEMENT :.......................... ۲٦
د رسيدلي باغ پاملرنه کول............................................................ ۲٦
په کليفورنيا کې په نمونوي ډول دسرې استعمال:....................................... ۲۷
دعناصرو دکمښت د نښو پيژندل:..................................................... ۲۹
اوبه خور:............................................................................. ۳۰
د مېوې رنګړې کول:.................................................................. ۳۲
۷. د انارو غټې ناروغۍ ، حشرات او د هغوی کنټرول:.............................. ۳۲
سپږۍ يا Aphids:..................................................................... ۳٤
سپږۍ Mites:......................................................................... ۳٤
چېنجي Worms :...................................................................... ۳۵
د انارو ناروغۍ، علايم او اداره کول :................................................ ۳٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انارو د حاصل راټولول او سنبا لول: ........ ۳۷
د انارو د مېوو پروسس: ........ ۳۷
۸. پوښښي بوټي ........ ۴۰
ولې پوښني بوټي وکرل شي؟ ........ ۴۰
د پوښښي بوټو زیانونه: ........ ۴۰
سپارښتنې Recommendations: ........ ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱. انار : سرچینه یې او چیرته کرل کیږي.

انار د ایران ، شمالي هند ، همالیا او په اسیا کې د مدیتراني او قفقاز په زونونو کې له پخوا وختونو راهیسې کرل کېده او ویل کېږي چې اصلي منشا او مبدا یې هم یاد شوي ځایونه دي. انار په هر ډول خاوره او آب و هوا کې توافق کوي .د وچکالی ، مالګې ، د اوسپنې د کموالي او فعال کلسیم کاربونېټ په وړاندې مقاوم دي. په پراخه ډول په ټول ایران ، هند ، د سوېل ختیزې اسیا په وچو برخو کې ، ملایا (Malaya) شرقي اندیز (East Indies) او د متحده ایالاتو او لاتین امریکا په وچو او تودو سیمو کې کرل کېږي. انار معمولاً بحرله سطحي څخه د ۱۰۰۰ مترو نه په ټیټو سیمو کې کرل کېږي او په تودو او نیمه تودو سیمو پوري محدود دي ولې په وچ او نیمه وچ اقلیم کې ښه کرل کېږي. په هغه ځایونو کې په زړه پوري وده کوي په کومو کې چې ژمې سوړ او اوړي تود وي .انار د سړو حالاتو په مقابل کې د مقاومت توان لري مګر ۱۰- درجې د سانتي ګراد څخه د ټیټو سړو په وړاندې تر ډېره وخته ژوندي نشي پاتي کېداي. په ۳۰ درجې د سانتي ګراد تودوخه او وچ اقلیم کې د مېوې د ودې په دوران کې د ښه جنسیت مېوې تولیدوي .هغه ساحي چې ډیر رطوبت او بارانونه لري د انارو د کر لپاره په بشپړ ډول مناسبې ندي.

او که چېري انار د نو موړو شرایطو لاندې تولید شي نو لاسته راغلي انار به لږ خوږوالي ولري او په پر لپسي توګه به وغورځیږي .

اوس مهال انار د جنوبي قطب څخه پرته په ټولو لویو وچو (براعظمونو) کې کرل کېږي. د انارو تولید په نړیواله کچه د امریکا په متحده ایالاتو د ( کالیفورنیا ، اریزونا ) په واسطه رهبري کېږي او د ترکیې ، تونېس ، هسپانیه ، او ایران په واسطه تعقیبیږي . که څه هم په عمومې صورت قبول شوي احصاییه وجود لري .

- کالیفورنیا تقریباً ۱۷۰۰۰ میټریک ټنه انار له ۱۲۱۴ هکتاره څخه د ۴،۹ مېلونه ډالرو په ارزښت تولیدوي . د مېوو د روغتیایي ګټو د لوړوالي په اسا س د انارو کر زیاتیږي .
- په تونس کې په **۱۹۹۹** م کال کې ټول ټال د **۱۵۰۰۰** هکتاره ساحي کې چې معمولاً **۵** مېلونه د انارو ونې په مخلوطو مېوه دارو باغونو کې کرل شوي یا هم توزیع شوي دي راپور ورکړل شوي دي . په **۱۹۹۷** کال کې کلني تولید **۵۰۰۰۰** ټنه وه چې په عادي ډول په محلي بازارونو کې خرڅیده لږه برخه (۱ %)یې صادریده .
- ترکیې په **۱۹۹۲** ل م کال کې **۵۲۰۰۰** ټنه د کلني تولید راپور ورکړ .
- ایران په **۲۰۰۵** م کال کې **۲۰۰۰۰۰** ټنه د انارو د تولید راپور ورکړ
- اوس مهال د افغانستا ن تقریباً په سلو کې دوه برخې د کرنې تولید د انارو څخه لاسته راځي چې په بلخ، هلمند او نیمروز ولایتونو کې کرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Altai Consulting, Kabul, Afghanistan and FAO Survey 1997, 2003)

د انارو محلي نوعي چې د قندهار ولایت په ۴۰۳۲ جریبو یا ۸۰۲ هکتارو کې کرل کېږي د لوړ کېفیت او تولید په توګه پیژندل کېږي. دبزګرانو د راپور له مخې 1720kg /jerib تولید د ډنډ ولسوالي څخه او ۳۸۰۰kg /jerib تولید د ارغنداب ولسوالي څخه لاسته راځي. د فراه ولایت هم د انارو د لوړ تولید او ښه کېفیت په درلودلو سره چې 1097kg/jerib تولید ورڅخه په لاس راځي زیات شهرت لري چې په کې انار د مهمو حاصلاتو د جملې څخه په دوهمه درجه کې قرار لري.
د انارو تولید د انارو د تولید د لوړې تقاضا په مناسبت خصوصاً د انارو د جوس چې د روغتیایي ګټو په پیژندلو سره زیاتیږي .

## ۲. انار څه ډول مېوه ده ؟

انار (Punica granatum)یو بوټی یا یو وړه ونه ده چې لوړوالي یې ۸مترو ته رسیږي (زیاتره نسبتاً وړې وي) چې په تودوسیمو کې تل شني وي او نیمه تودو او معتدله ساحو کې پاڼریژي وي .دانارو نیالګي ډیر لږ تیره وزمه ، پاڼریژي ،وړې ، تنګې او اوږد وزمه پاڼې او لنډ ډنډرکي لري.د انارو ساقه د یو سور نصواري رنګه پوټکې پواسطه پوښل شوي کومه چې بیا وروسته په خړ رنګ بدلیږي . ښاخونه یې شخ ، زاویه لرونکې او بعضي وختونه تیره وزمه وي.د بوټي د بیخ څخه د ډنډرکو یو قوي مېلان د بوټي د ودې په وخت کې رامنځ ته کېږي .په باغونو کې معمولاً نیالګي د یوې ساقې په درلودلو سره د یو نیالګي یا ونې په ښه روزل کېږي او همدارنګه ونې کېداي شي چې د څو ساقو په درلودلو سره د یو نیالګي یا ونې په ښه وروزل شي . ونې کېداي شي چې د څو ساقو په درلودلو سره په سړو سیمو کې هم وروزل شي تر دې چې د ټولې ونې د لمنځه تللو خطر کم شي .دانارو ونې کېداي شي چې د دوه سوه کالو په اوږدو کې ژوندي پاتي شي ولې د مېوې ورکولو توان یې د ۱۵ کالو څخه وروسته کمېږي او ونې بې ثمره کېږي.زیاتره انار په دوهم کال مېوه تولیدوي (بعضي په لومړي کال کې مېوه تولیدوي) مګر اساسي مېوه نیول یې د دریو څخه تر پنځو کلونو پوري نه شروع کېږي .



د انارو ګلان کېداي شي چې سپین ، ګلابي ، سره او یا هم نارنجي وي . ګلان کېداي شي مذکر ( د لویدلو تخمو سره ) یا بشپړ وي چې د مذکر او مونث برخو لرونکې وي او تولید ورکړي. زیاتره انار ځانګړي ګرده افشاني لري که چېرته دوهم ډول (نوعه ) موجوده وي تر څو ګډه ګرده افشاني (Cross Pollination)صورت ونېسي نو بیا هم انار ښه حاصل ورکوي.د ګډې القاح نیولو په صورت کې د مېوو مقدار ۳۸% زیاتیږي .بعضي انار ځاني القاح نلري او Compatible pollenizers ته اړتیا لري. ګرده افشاني د حشراتو پواسطه معمولاً د شاتو دمچېو پواسطه رامنځ ته کېږي په عام ډول د انارو د مختلفو نوعو یا ډولونو ګل غوړیدنه(مارچ ـ اپریل) او (جولایي ـ اګست) تر منځ رامنځ ته کېږي. نوموړي غوړیدنه د لسو څخه تر دولسو اونېو پوري او هم تر زیات وخت پورې جاري وي چې دا عمل د نوعې او جعرافیاوي موقعیت پوري اړه لري . د بشپړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړیدنې موده تقریباً په یو مباشت کې پای ته رسیږي . د نارینه ګلانو سلنه (فیصدي) د ۲۰٪ - ۷۰٪ ځخه لوړه وي چې دا سلنه (فیصدي) د انارو په نوعو او موسم پوري اړه لري . د مختلفو نوعو یا ډولونو په صورت کې د ګل غوړیدنې په موده کې دوه ډوله ګلان (زیات نارینه ګلان یا زیات بشپړ ګلان ) تر ستر ګو کیږي . مګر په عا مه توګه بشپړ ګلان په زیات مقدار سره موجود وي ولې په تدریج ډول د ګل رسیدلو تر وخته کمیږي او وروسته بیا زیاتیږي . د میوې ساتنه (دمیوې د ټولولو په وخت کې ) مخکنیو ګلانو ځخه تر رسیدلو ګلانو پوري ۳۰ فیصده د مخکښني ګل په غوړیدنې کې او ۸۰ فیصده د وروستې ګل دغوړیدنې په دوران کې زیاتیږي. هغه ګلان چې د ګل غوړیدنې ځخه ځلور یا پنځه اونې وروسته تولید شوي وي لوړ حاصل ۹۰ فیصده د میوو لږ چاودیدل او د غوره جنسیت میوې ورکوي. پدې ډول د لومړنیو میوو د رنګړي کولو پواسطه په مجموعې ډول د میوو جنسیت اصلاح کوي . د انارو میوه د ۵,۳ ځخه تر ۲,۵ سانتې متر پوري پراخه او وزن یې د ۳۰ ځخه تر ۱۲۰ ګرامه پوري دې چې د ۳ ځخه تر ۷ میاشتو په جریان کې وده کوي او پخیږي . انار ځرمن وزمه بڼویه پوټکې لري او په نویو غیر قابل خوراک پردو ویشل شوي چې یو شمیر حجري تشکیلوي.
ټول زاویه لرونکې تخمونه د شیرې لرونکې کځوړې په ډول وجود لري. د انارو میوه کبداې شې چې سپینه یا شنه یا ګلابي وي. د انارو د میوې بهرنۍ طبقه کبداي شي چې سپینه یا شنه ، ګلابي او یا سره وي او ژیړ ته ورته پس منظر ولري او د شیرې رنګ د بهرنۍ طبقې رنګ تعقیب کړي .د انارو د میوې د ښه خوند د لاسته راوړلو په خا طر د میوو د تولیدولو په دوران کې لوړې تودوخې ته ضرورت دی د میوې رنګ د نوعې په خصوصیاتو پوري اړه لري.

## نوعې یا ډولونه :

د انارو (Genus punica ) یوازې بل ډول P.Proto-punica چې P.nana هم ورته ویل کیږي وجود لري کوم چې په تجارتي ډول نه تولیدیږي او یا د خوړلو وړ نه دي. د یو هیواد د ډیرو نوعو نومونه بې ساري دي چې چېرته کرل شوي او ارثي سرچېنه یې هم بعضې وختونه غیر مشخصه وي او دا ځکه چې د یو ډول یا نوعې د یو ځخه زیات نومونه وي .په زیاتره هیوادونو کې د انارو په سلګونو نوعې موجودي وي بعضې وختونه نوعې یا ډولونه د خوږو ، خوږو او تروو ، وختې ، منځنې او ناوخته موسم د جوس په خاطر، د میز د سر میوه (د میز په سر د ډوډې خوړلو په وخت ) نرمه دانه لرونکې او کلکه دانه لرونکې یا د ډیرو دانو لرونکې او لږو دانو لرونکو له مخې صنف بندي کیږي. د ډولونو یا نوعو نومونه بعضې وختونه د کرلو د ځاي ځخه او یا هم د میوې د رنګ ځخه سر چېنه اخلي.که څه هم د انارو ۳۰۰۰ نوعې پیژندل شوي خو یوازې یوه نوعه Wonderful یې په عام ډول په نړیواله کچه خصوصاً په کلیفورنیا ، چلي او اسرایلو کې کرل کیږي.کلک زړي لرونکې میوې د خوړلو ټیټ جنسیت لري نو همدا علت دي چې نرم زړو لرونکو نوعو ته امتیاز ورکول کیږي . کلک زړي میوې چې د تور رنګ لرونکې وي زیاتره د جوس او د پروسیس پخاطر ورځخه کار اخستل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکا متحده ایالات (USA):

د Wonderful نوعې د قلمې په شکل د فلوریډا (Florida) ایالت څخه سرچینه اخیستي او په ۱۸۹۲ م کال په کلیفورنیا کې تکثیر شوي . مېوه يي ګرده مګر قطبي ساحه يي همواره ده او همدا رنګه نوموړي نوعه ډیره لویه ، تته ارغواني ، سور رنګې ، ضخیم پوټکي لرونکې ، جوس لرونکې او نیمه کلک زړي ده .



بوټي يې قوي او حاصل ورکونکي دي . نوموړي نوعه غټه ارغواني سره مېوه لري چې په تاوده اقلیم کې د ښه جنسیت مېوه ورکوي او په هر ډول خاوره کې تر ډیره وخته ژوندي پاتې کېدای شي او د کر په اول کال کې يي مقاومت زیات دي ،ځاني القاح لري او د ا ګست د پنځه ویشتمې څخه تر اول داکتوبر پورې راټولیږي او د شپږ ساتتي ګرادو او یا له دي څخه په ښکته تودوخه کې ۱۵۰ یخو ساعتونو ته ضرورت لري . نوري نوعي هم وجود لري ولي هغه ډیري کمې کرل کېږي چې عبارت دي له .

**امبروسیا (Ambrosia):** د wonderful نوعي په نسبت يي اندازه دري چنده ده ، پیکه



ګلابي پوټکې لري د wonderful نوعي په څیر ارغواني نوعه خوږ /تریو جوس لري او ۱۵۰ یخو ساعتونو ته ضرورت لري .

## تل خوږه نوعه (Ever Sweet):

ډیره خوږه او بي زړو مېوه لري ( حتي نا رسیدلي مېوې يي خوړي وي) سور پوټکی او شفاف جوس لري د اوړي دختمېدو څخه تر مني پوري راټولیږي . د سیند



پر غاړو او یا هم د سیند څخه لري کرل کېږي .ګلان يي غټ ، ځلانده ، او نارنجي سور رنګ لري او همدارنګه ۱۵۰ یخو ساعتونو ته ضرورت لري .

**ګریناډا نوعه (Grenada):** مېوه يي دننه او بهر ژور سور رنګ لري په کلیفورنیا کې په تجارتي ډول ددي نوعي کرل مخ پر زیاتیدو دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ریډ سیلک نوعي (Red silk):



ټیټ قدي انار دي چې تر دوو مترو پورې غټیږي . UC Davis نوعه یې د لوی مېوې لرونکې ده چې سور او د ښه خوند لرونکې جوس لري او همدارنګه ددې ترخنګ د تریو والي او خوږوالي په زړه پوری تعادل لري.

## خواږه انار :

نوموړې نوعه د Wonderful نوعې په نسبت زیاته خوږه ده او په یخو او تودو اقلیمونو کې د غوره




جنسیت لرونکې ده. کوچنۍ ځلانده پاڼي لري او ونې یې د پسرلي په اخر کې روښانه سري نارنجي غوټۍ لري . په لوښـي کې د ودې کولـو لپـاره ډیـره مناسـبه ده . داوړې پـه اخـر کـې راټـولیږي نـا چاودیدلې او پخې مېوې په سړو او وچو ځایونو کې د دوو یا زیاتو مېاشتو لپار ذخیره کېږي . ډیرو لږو سړو یعني سلو ساعتو ته ضرورت لري او ځاني مېوه لرونکې دي .

## ترکیه :

د هغه هیوادونو له جملي څخه ده چې انارو ورڅخه سرچینه اخیستي، په مختلفو ساحوکې یې زیـات ډولونه کرل کېږي. ډولونه یې دخوږوالي او د زړي د ډول پـه اساس عبـارت دي لـه.تریـو ،خوږ تریـو اوخوږې انواع او د زړي د ډول په اساس نرم زړي،نیمه کلک او کلک زړي دي.

## تونس :

د هغه هیواد ونو له جملي څخه دي چې انارو ور څخه سرچینه اخیستي او پـه مختلفو منطقو کې یې مختلف ډولونه کرل کېږي . چې دغه انواع د محلي نومونو سره د نوعې د ځایي او د مېوې د رنګ او داسي نورو ورته سرچینو په اساس موندل کېږي. نباتي مواد وار په وار د منطقو تر منځ تبادله کېږي چې ارثي ډولونه په نوموړو ساحو کې د نورو ډولونو یا نوعو سره کېداي شي نېږدې اړیکې ونه لري نو په دې اساس تولید په منطقو کې نه مشخص کېږي.
هغه مېوې چې په عنعنوي ډول تولید شوي د نوي مارکېټ لپاره مناسبې نه دي . یو څه محلي نوعې په تجارتي قوریو کې تکثیر کېږي او په نوې کرونده کې استعمالیږي . بعضي نوعې یې عبارت دي له مېزي ، رونزي یا ګروسي چې پدې کې کم تر کمه څلور ارثي اړیکې لرونکي ګروپونه موجود دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هسپانیه :

په هسپانیه کې انار معمولاً په الیکنټ او مورسیا ولایتونو کې چې په سوېل ختیزې هسپانیه کې موقیعت لري کرل کېږي چې د اوړي د بادونو تودوخه معمولاً د ۴۰ سانتي ګراد څخه زیاتیږي . د انواعو خصوصیات د ډولونو تر منځ په لوړه کچه بدلیدونکي دي. په عمومې ډول د Mollar de Elche نوعه په کې زیاته کرل کېږي. روجا (Roja) او (valenciana)اضافه ډولونه دي.د Valenciana نوعي بهرنۍ برخه د Moller نوعې په نسبت روښانه ده ولې داخلي برخه یې پیکه او زیاته خوږه نه ده. اوس مهال د نسل ګیري د پروګرامونو په واسطه نوي انواع معرفي شوي دي تر څو چې تجارتي محصولات اصلاح شي.

## ایران :

هغه خوږې انواع چې په تازه ډول په ایران کې استعمالیږي عبارت دي له علق شیرین ، بې هسته ، سیاه ، آغا محمد علي شیرین، ملاسي شیرین ،ملاسي ترش او داسې نورو څخه .
نیله بوټي او زینتي نوعي :
عبارت دي له علق ترش ، تا بستاني او پوست سفید ترش څخه.
**ایټالیا خصوصاً سیسلي**:هغه انواع چې په دغه هېوادونو کې کرل کېږي په لاندې ډول دي
رګانا ، درکلمو ټو ، پروفیټا ، سیلیننټ ، نیراناا و ډنټ ډاي کا والو.
**هند** :په دغه هېواد کې معمولاً رومبیټوب غوښینو او د بې زړو جوس لرونکو نوعو ته ورکړل شوی دی . هغه نوعي چې نرم زړو ته ورته وي د بي زړو په ډله کې صنف بندي شوي دي لکه بي دانه ، قندهاري ، آلنډي ، وډکې ، دولکا ، کابل ،مسقط ریډ ، پیپرشیل، پونا ، هسپانوي ربي، ویلوډو او مسقط وائټ.که څه هم د انارو د ډولونو د کر په اړه په منځنې ختیځ او اسیا کې محدود معلومات وجود لري خو ځیني ډولونه یې د تجارتي اهمېت له مخي په لاندي ډول لیست شوي.
عراق: احمر، اسود او حلوا
سعودي عرب : منګولاټي .
اسرائیل یهودي برخه : مالیسي او راس ایل بغل.
د انارو نسل ګیري : د تجارتي نوعو انتخاب.

## د مېوو په اړه مهم مشخصات :

- غوره جنسیت لرونکې مېوه : پدي کې د مېوې اندازه او شکل ، د پوټکې او زړې رنګ ، جوس درلودل او د بورې اجزا او همدارنګه د تیزابو خوند موجود دي . د انواعو د خصوصیاتو تر منځ لوی توپیر شتون لري چې کېداي شي دا د کرنیز چاپیریال او د راټولولو د نیټې په واسطه په پراخه کچه متاثره شي . د مېوې د اندازي یا د پوټکې د سور رنګۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د مېوې د داخلي جوړښت تر منځ باثباته اړيکې وجود نه لري .په نسبي ډول زيات جوس د غټې مېوې څخه ډېر مطلوب دي .

- د نرمو زړو (دانو) شتوالي: نرم زړي (نرمې دانې ) يا د زړو نه موجوديت يو په زړه پوري اقتصادي خاصيت دي چې د مېوې د استعمال جنسيت اصلاح کوي .د انارو زياتره انواع يا حالتونه ددي خاصيت (دزړو نرموالي ) څخه تر زياتي اندازي مختلف دي .د سخت زړو جوړښت کېداي شي چې د نرم زړو ډولونو يا نوعو د ګرده افشاني په واسطه متاثره کېږي .
- د مېوې مقاومت د چاودېدو په وړاندې : دا کار زياتره د آب و هوا ، د باغ د اداري خصوصاً د اوبو درژيم او د اوبه خور د مهال ويش پورې اړه لري او د پورته عواملو په واسطه متاثره کېږي
- د مېوې مقاومت د سوري کوونکو حشرو په وړاندې: د Moth او Butterfly مختلفې لارواوې د انارو پيژندل شوي حشرات دي چې انارو ته د پام وړ زيان اړوي. په عمومي توګه تيزاب لرونکې مېوې د خوږو مېوو په نسبت د کم زيان سره مخ کېږي.
- د حاصلاتو له راټولولو څخه وروسته د ښه کېفيت درلودل:په زياتره هيوادونو کې د انارو ذخيره کول او انتقالول مروج دي. د حاصلاتو د غوره جنسيت ساتل او د مېوې مقاومت د حاصلاتو د ساتلو يا ذخيره کولو په زړه پورې خصوصيات دي.

## د انارو د کرلو لپاره کومو شيانو ته اړتيا ده ؟

<u>تودوخه :</u>

د انارو انواع په نيمه تودو سيمو کې چې معتدله تودوخه لري ښه حاصل ورکوي او په طبعي توګه په هغو سيمو کې چې ژمې يې سوړ او اوړي يې تود وي ښه توافق کوي . انار د منفي يوولس سانتي ګراد (11C-) څخه په ټيټه تودوخه کې تر ډيره حده زيانمن کېداي شي .

د انارو بوټي لومړی پاڼې او وروسته غوټۍ کوي او د لومړۍ پاڼې څخه تر غوټۍ کولو پورې د يخ وهنې په وړاندې حساس دي

د انارو نيالګي نيمه وچ اقليم خوښوي او د وچکالۍ په مقابل کې ډېر زيات مقاوم دي. انار په پوره لمريز موسم کې ښه حاصل ورکوي.د انارو پوټکی چې د يخ وهنې او د لمر د سوزيدو له امله زيانمن شوی وي د سپين رنګ په واسطه د رنګولو له لارې کولای شو چې د تودوخي د تغير يعني د يخو شپو او تودو ورځو په جريان کې يې زيان راکم کړو.

<u>خاوره :</u>

بيدون د الکلي او مالګينو خاورو څخه انار په زياترو خاورو کې کرل کېږي.همدارنګه انار په کمو الکلي خاورو کې چې pH يې ۷,۵ ته رسيږي مقاومت لري خو ولې کمې تيزابي خاوري چې pH يې د ۵,۵-۷,۵ پوري وي د انارو لپاره په زړه پوري خاورې دي . انار په ژورو او درندو ګډو خاورو کې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصل ورکوي مګر منځنۍ درنې خاورې هم د قبول وړ دي په هغه صورت کې چې ښه ذهکشي شوې وي.
انار د یو مخیز اوبه خور په مقابل کې مقاومت لري که څه هم انار معمولاً په مني کې زیات اوبه کېږي ترڅو د مېوې په سایز کې زیاتوالي راشي ولي په ژمي کې د حاصل ټولولو په وخت کې باید اوبه نشي ځکه چې په پسرلي کې د زیاتي ودي باعث ګرځي. په ژورو خاورو کې انار باید په مایلو ځایونو کې وکرل شي ترڅو په خاوره کې د هوا جریان او د انارو تولید اصلاح شي. د انارو دکر لپاره سپکې او شګلنې خاورې هم استعمالیداي شي خو په دې شرط چې باغ باید ښه اوبه شي.

## ۳. په افغانستان کې انارپه کوموځایونو اوکوم ډولونه یې کرل کېږي؟

د قندهار ولایت انار په تاریخي لحاظ د غوره کېفیت د انارو په توګه پیژندل کېږي . د انارو زیاتره باغونه یې د ارغنداب د سیند په اوږدو کې واقع دي .په قندهار ولایت کې د انارو کلنی حاصل تقریباً ۲۰۰۰۰ مترک ټنو پورې رسي او اساسي نوعه یې قندهاري ده . په تګاب ولایت کې اساسي نوعه بیدانه ده او کلنی حاصل یې تقریباً ۴۰۰۰ متېرک ټنه دي. د افغانستان په نورو ځایونوکې هم په کم مقدار انار تولید یږي.لوړوالی د انارو د تولید په وړاندې یو خنډ دی . په ننګرهار ولایت کې بیدانه انار په ۱۰۰۰ مترو یا لدي څخه پورته ارتفاع کې او قندهاري د ۵۵۰-۱۰۰۰مترو په لوړوالي کې تولید یږي.

## ۴.د باغ پلان ګوزاري:

### د ډول یا نوعې غوره کول

### یو بزګر باید کومه نوعه وکري او ولي ؟

معمولاً د غوره ډولونو په پیژندلو کې لاندې مشخصات استعمالیږي:

- د انارو هغه ډولونه چې ګلابي او سره ګلان لري عام ، په زړه پوري او تجارتي ډولونه بلل کېږي.
  - سوربخن رنګ لرونکې مېوه زیات تروشوالي ته مېلان لري.
  - سپین بخن رنګ لرونکي مېوه زیات خوږوالي ته مېلان لري.
- مېوه باید په ونه کې په یو وخت کې پخه شي ترڅو په یو وخت کې دسته بندي شي او په مېوه کې کم چاودونه رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غټه مېوه: که څه هم کوچني مېوې ژر پخيږي، خو د غټو مېوو لپاره په بازار کې تقاضا زياته او هم نرخ يې تر نورو ښه وي.
- د ښه ذخيره کېدو او انتقال ځانګړتياوې ولري.
- د زياتو زړو په نسبت بايد زياته غوښينه برخه ولري ځکه چې کوچنيو او نرمو زړو ته ترجيح ورکول کېږي.
- ځاني القاح بايد ولري.

## ځاني القاح لرونکي انار (Self Compatibility):

د انارو زياتره انواع ځاني القاح لري او د Pollinizer څخه پرته مېوه نيسي ولي د مېوې نيونه يې د Pollinizer سره اصلاح کېداي شي . که چېرې تاسي په شک کې ياست نو کولاي شي چې دوه يا له دوو څخه زياتي نوعي وکرئ تر څو خپلمنځي غير ځاني القاح صورت ونيسي چې د نوموړي عمل له لارې ښه توليد لاسته راځي.

## زياتوالی يا تکثير (Propagation) :

انار کېدای شي چې د نرمو او کلکو لرګو د قلمو او يا هم د تخم د لارې تکثير شي. د نرمو لرګيو قلمې چې د وده ييز فصل په اخر کې رامنځته شوي کېدای شي چې د قوريي په بسترونو يا شنو خونو کې ريښې وباسي مګر دا د زياتوالي يا تکثير معياري مېتود نه دی.
تخمونه په اسانۍ سره تيغه کوي پرته له دې چې د استراحت حالت ته لاړ شي. مګر ونې په تجارتي ډول د تخمونو د تيغونو په واسطه نه کرل کېږي ځکه چې په نوموړو نيالګيو کې چې د تخمونو په واسطه تکثيريږي د مخکېنۍ نوعي يا ډول خواص شتون نه لري.
د تخمونو څخه په لاس راغليو نيالګيو مېوې د مختلفو خواصو لرونکې وي د بيلګي په ډول غټه مېوه په وړه مېوه جوس لرونکې په کم جوس لرونکې ،پخه سره يا ګلابي رنګه په سپينه او همدارنګه خوږه مېوه په تروشه مېوه بدليږي. نيالګي په اسانۍ سره د کلکو لرګيو د قلمو په واسطه تکثيريږي چې د نوموړو قلمو اوږدوالی بايد د ۱۵-۲۰ سانتي مترو او پنډوالي يې د پنسل يا له دې څخه لوي وي. قلمې بايد د تير کال د فصل د ډنډرکو څخه چې د ګل غوټې (Bud) او پاڼې ولري واخيستل شي او يا هم نمو يا وده کوونکې لښتې د استراحت د مرحلي په اخر وخت کې مخکې لدې چې پاڼې يا ګلان وغوړوي (فروري يا مارچ) کې واخيستل شي او په تعقيم شوي خاوره کې دې عمودي کېښودل شي. په شنه خونه کې دې پورتنۍ زخه بهر طرف ته پريښودل شي او يا هم مستقيماً دې د قوريي په بسترونو کې وکرل شي.
د انارو قلمې په اسانۍ سره ريښې کوي او په زړه پوري کلونونه (Clone) ورڅخه په لاس راځي. قلمې کېداي شي چې د قوريو په قطارونو کې د يو يا دوه کلونو لپاره پريښودل شي. په اصلي ځاي کې د کرلو څخه مخکې د قوريي په بسترکې د قلمو يو کال پاتي کېدل کفايت کوي. کله چې قلمې د قوريي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بستر څخه انتقالیږي نو نازکې ریښې لري که چېرې محفوظ وساتل شي ښه وده کوي. په عمومي ډول د انارو تکثیر د ښاخ پیوند په وسیله کامیابه نه دي.

## د موقعیت غوره کول او تیارول:

تولید د ونې په اندازې، قوت او د حاصل په توان پورې اړه لري .
د مېوو په تولیدنکو سیمو کې د ونې د اندازې محدودونکې عوامل په لاندې ډول دي.

- اقلیم :

خصوصا په کافي اندازه د بارانې یا داوبخور د ابو نشتوالي او یا یخ وهنه په هغه سیمو کې چې د ژمې تودوخه یې (۵-۱۵)د رجې د سانتې ګراد وي .
کچېرې یخ وهنه مخکې د پسرلي څخه یا د غو ړیدلو په دوران کې رامنځ ته شي نو کېدای شي چې فصل له منځه ولاړ شي .

- خاوره :په ژوره او ښېرازه خاوره کې د کمزورې خاورې په پرتله وده ښه وي او محدوده نه وي .
- حاصل خیزي :د ښه تولید د لاسته راوړلو په خاطر باید سرې تطبیق شي .

## د سیمې (موقیعت ) غوره کول :

د انارو د کرلو لپاره ژورې او ښه زهکشي شوې شګلنې لوم خاورې چې ښه رطوبت (لنده بل) او د غذایي موادو د درلودلو ظرفیت ولري تر ټولو غوره خاوري دي . انار باید په مالګینو (Saline) خاورو کې ونه کرل شي . په پوره ډول د لمر رڼا تقریبا د ټولې ورځې په اوږدوکې ضروري ده .
هغه ونې چې د ورځې په اوږدو کې کم تر کمه د ۶-۸ ساعتو پورې د لمر رڼا تر لاسه نکړي نو اوږدې نرۍ څانګې تولیدوي چې د لږو ګلانو او مېوو درلودونکې وي. د خاورې د داخلي زهکشۍ د معلومولو لپاره یوه ساده ازموینه تر سره کوو تر څو وکتل شي چې آیا تاسو د مېوه دارو ونو لپاره مناسب ځای غوره کړی ؟
د یو متر ژوروالي په اندازه یو تنګ سوری وکنی او د اوبو څخه یې ډک کړئ. که چېرې اوبه په ځلورویشتو ساعتو کې له منځه ولاړې نو تاسي به د مېوه دارو او مغز لرونکو ونو په کرلو کې هیڅ ستونزه ونه لري . او کچېرې اوبه په ۴۸ ساعتو کې له منځه ولاړې نو خاوره د منلو وړ ده ولې څه ناڅه ستونزې رامنځ ته کوي او که چېرې اوبه وروسته د ۴۸ ساعتونو څخه په سوري کې موجودې وې نو د مېوه دارو او مغز لرونکو ونو پر ځای سبزیجات او ګلان وکرئ.

## له یخ وهنې څخه ساتنه :

د پاڼې د ټوکېدو ،دګل د غوړیدنې او د مېوې دځوانۍ په مرحله کې د یخ وهنې د خطر د کمولو په خاطر د باغ پلان جوړونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ونې چې په ازادو ساحو کې کرل شوي او یا یخو بادونو ته مخامخ وي ډیر احتمال لري چې د یخ وهلو زیان وزغمې . ټیټې ساحې سړه او یخه هوا راټولوي نو په ټیټو ساحو کې د کرلو ځخه ځان وژغوري . د جوړښتونو (ودانیو) یا دیوالونو سره نږدې په تیره بیا چې سوېل لویدیځ معرض ولري د ونو کرنه د هغوی سره نږدې د هغوی د جذب شوي حرارت ځخه ګټه اخلي .

- په ټیټو ساحو کې چې شاوخوا غونډۍ یا شیلې وي یخني راټولوي نو باید چې ونې ونه کرل شي.
- دا یقیني کړئ چې ځمکه کلکه ، مرطوبه او د لمر رڼا ته مخامخ ده.
- شمال ته مخامخ اړخ کې ونې وکرئ تر ځو غوړیدنه وروسته رامنځ ته شي.

د صحت مندو او روغو ونو ساتل د یخني د زیان د کمولو غوره لاره ده هغه تربیتي لارې استعمال کړئ چې په ژمي کې خوب(Dormancy ) وساتي .
دا طریقې د دوبي یا منې په اخر کې د سرې د نه ورکولو او ښاخه برۍ ځخه عبارت دي. غښتلې او قوي ونې امکان لري چې د یخ وهنې ځخه وروسته روغې شي او کمزوري ونې چې ناروغې، د حشراتو زیان او غذایي نیمګړتیاوې لري ښایي چې د شدید زیان سره مخ شي او په تدریجي ډول بیرته روغې شي. وانبه ، هرزه ګیاه ګانې او خزلې د ورځې په جریان کې خاورې ته د حرارت د ننوتلو مخه نیسي. نو پدې ډول د شپې د پریښودلو لپاره لږه انرژي ذخیره کېږي . د ونې شا اوخوا تر خپلې وسې پورې د خزلو ، هرزه ګیاوو او ځمکې پټونکو نباتاتو ځخه پاکه وساتئ . په باغ کې د پوښوونکي فصل د کرلو ځخه ځان وساتئ او یا هم هغه لارښوونې چې د پوښوونکي فصل تر عنوان لاندې راغلي تعقیب کړئ.

## د خاورې تیارول ، سمون او سره ورکول :

د کرلو ځخه مخکې خاوره د قلبه کولو او یوم اړولو پواسطه په بشپړ ډول تیاره کړئ او د کرولو ځخه مخکې ټولې ګیاوې ، یو ځایې شوي چونه ، عضوي مواد لکه پوره خوسا شوې سره یا کمپوست د خاورې ځخه د ۲۰-۲۵ سانتي مترو پورې لرې کړئ. که چېرې PH د ۷ ځخه ښکته وي چونه په نهه متر مربع ساحه کې د ۴,۵ کېلو ګرامو په اندازه تطبیق کړئ . له قورېې ځخه د نیالګیو له راایستلو د مخه خاوره تیاره کړئ. انار معمولاً ډیرو غذایي موادو کمښت نه ښيي ، نایتروجن (N) د حاصلخیزۍ په اندازه ، وده ، حاصل او د انارو په کېفیت د نورو نباتاتو په نسبت ډیر تاثیر لري. د نایتروجن مناسبه اندازه د ودې د ښه کولو او نوي کېنول شوو نیالګیو د پرمختګ لپاره ضروري ده .

## د کرلو ځخه مخکې د سرې ورکول : **Pre-planting Fertilization** :

کمپوست ، خیواني سره او شنه سره کېداي شي چې تر یو متر ژوروالي پورې وکارول شي . د نیالګي د کېنولو پر مهال د نیالګي سوري ته باید ذکر شوې سرې علاوه نشي بلکه د نیالګیو کېنولو ځخه وړاندې باید استعمال شي تر ځو خوسا کېدنه مخکې تر نیالګیو کېنولو رامنځته شي که نه نو د ریښو خوسا کېدل رامنځته کېږي. د نایتروجن عضوي منابع لکه یوریا باید په ژمي یا پسرلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبیق شي ترڅو تجزیه کېدل او د غذایي موادو خوشې کېدل او پرېښودل پر وخت ترسره شي. که چېرې نایتروجن تطبیق کیږي نو باید د ۲۰-۵۵کېلوګرامو پورې په یوه هکتار کې باید تطبیق شي.

## د ګیاوو له منځه وړل :

ډیرې ګیاوې د انارو د نویو نیالګیو سره په کلکه سیالي کوي باید مخکې د نیالګیو له کېنولو څخه د منځه لاړې شي .

## د نیالګیو کېنولو ډیزاین یا Planting design:

د انارو نیالګي د ونو او قطارونو په منځ کې د ۳-۴ او ان د ۲-۷ مترو فاصله کې کېنول کېږي چې نوموړې فاصله د باغ په انتخاب (ونې یا نیالګي) ، د باغ قوت ( دخاورې کیفیت،په کافي ډول د اوبو موجودیت، نوعې او تغذیې پورې اړه لري.
که چېرته Cross-pollination ته اړتیا وي نو د Pollinizer تعداد باید چې د انارو د نوعې د تعداد سره برابر وي. که چېرته د ګرده افشانيPollinizer مېوه د کمزورې کیفیت درلودونکې وي نو یو Pollinizer د نهه اصلي مېوه ورکوونکې ونو په مقابل کې وکرئ چې فاصله یې په عادلانه ډول ترتیب شوي وي. د Pollinizer ډیر موثر ډیزاین۳x۳ متر مربع کې د نهو (۹) ونو لپاره دي چې د مرکز ونه ګرده ورکونکې (Pollinizer) وي. د نېږدې فاصلې پایلې ممکن وړې ونې وي او یا که ونې ډیرې غټېږي یو پر بل سیوري کوي چې په پایله کې د مېوې حاصل کمېږي . د انارو ونې ته که ښې اوبه او ښه سره ورکړل شي تر ۹ متر و پورې لوړیږي . که چېرې اجازه ورکړل شي چې وده وکړي لږه مېوه به تولید کړي. د انارو د ونو د ښاخونو قطر کم تر کمه تر۵ مترو پورې وده کوي. د انارو ونې په کافي فاصله کې کېنوئ تر څو د ډیرې سیالۍ مخه ونېول شي . د ونو قطار د شمال څخه د جنوب په لور جوړ کړئ چې پدې سره به رڼا مېوو ته مخامخ شي.

## ستاسو ونو ته ښه یا شکل ورکول :

انار په طبعي ډول دڅوتنو یاڅو نیالګیو په درلودلو سره روزل کېږي که څه هم انارد ونو په څیر کرل کېږي. په عمومي توګه دګلدان په ښه Vase-shaped او یا هم د منځ خالي سیستم Open center په واسطه روزل کېږي ترڅو د چترۍ ټولو برخو ته په کافي اندازه رڼا ورسیږي تر څو د ګل غوټۍ جوړې شي او دښه کیفیت مېوه تولید شي.
که چېرې انارد بوټي په ښه وکرل شي . معمولاد 3-5 پورې ساقې د ودې په منظور پرېښودل کېږي .
که چېرې انارپه ګڼ شکل وکرل شي نو د مېوې د کم تولید باعث ګرځي خو برعکس د ونو په ښه چې د لمر د رڼا څخه استفاده کوي د زیاتې مېوې د تولید باعث ګرځي. په یو ګڼ باغ کې د مېوې تولید کم وي او فقط د ونې په پورتنۍ برخه کې مېوې تولیدیږي ، مېوې کم رنګه وي او د پاشونکو موادو تطبیق مناسب نه برېښي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوعې د پوره اندازې لويوالي لپاره په زړه پوري فاصله m 6x5 يا 6x4 متره ده همدارنګه د يو منځني او ټيټ قد لرونکې نوعي د کرلو لپاره مناسبه فاصله m 5x3 متره ده.
نوي قوي ښاخونه چې د تنې بهر خواته راښکاره کېږي بايد په لاس لري شي دا په هغه صورت کې چې د نوي فصل په جريان کې راښکاره شي ځکه چې زيات حاصل نه ورکوي او د رڼا د داخليدو مخه نيسي خو که چېري ونه د عمر په لحاظ يا د توليد د کموالي په اساس نويو ښاخونو ته ضرورت لري نو بايد د يو ساقي پر سر يو ښاخ پريښودل شي تر څو زاړه لرګي بيا نوي شي چې د دي عمل په واسطه به تنه د 3-2 کلونو په جريان کې په مېوه توليدونکې تني بدله شي . هغه باغ چې په کې خلک پيدل يا پياده ګرځي بايد لوړوالی يې د 3-5 , 3 مترو په اندازه وساتل شي ولي پداسي باغ کې چې د مېوې ټولولو په وخت کې پکې زينې ته اړتيا ليدل کېږي يعني مېوه يې جګه وي بايد لوړوالی يې د 5m نه زيات نه وي .
که چېري باغ قوي نه وي نو بايد د ونو لوړوالي د 3-3 , 5m نه پورته پري نښودل شي ځکه چې د باغ ساحه به ډکه نه وي او د کم توليد په وجه به ځمکه ضايع شوي وي.
ونې د ودي او دوباره توليد لپاره محدودې سرچېنې او منابع لري ، که چېري ټولې سرچېنې يا منابع د بدني ودې لپاره استعمال شي چې غټې ونې په لاس راشي نو د مېوې د توليد لپاره به هيڅ سرچېنې يا منابع موجودې نه وي . غټې ونې ډيره مېوه نه توليدوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵. د باغ جوړول:

## د قوريي ونې او دهغې کرل :

کله چې د مېوې ونې له قوريي څخه رارسيږي سم دلاسه د ونو بنډلونه خلاص کړئ تر څو زيان وپلټل شي او د ونو عمومي حالت و څيړل شي . دا باوري کړئ چې دونو ريښې وچې نه شي . د ډيرو مېوه لرونکو ونو ريښې کله چې د قوريي څخه راځي لوڅې او خاوره ور پورې نه وي نښتي . او هغه مهال چې تاسي يې کرلو ته چمتو نه ياست نو د ونو ريشي په ختو سره وپوښئ.
Hell in پدې مانا چې تاسې يوه ژوره کنده وباسئ چې د ونې ريښې او يا د ونو بنډل په هغې کې (په مرطوبه خاوره کې) تر کرلو پورې پټ کړئ.
په لوښو کې بايد نيالګي تر هغې پرېښودل شي تر څو ځمکه نه وي تياره شوي.او همدارنګه د لوښې خاوره بايد وکتل شي چې پوره وچه شوي نه وي.مخکې لدې چې په لوښي کې د کرل شوي نيالګي ريښې ماتې شي بايد د ريښې يې جدا شي.
کله چې ځمکه يخ نه وي وهلې نيالګي وکرۍ . ددې کار له تر سره کولو مو بايد چې هدف په لومړنيو دوه يا درې کلونو کې يوازې د يوې قوي ونې ته چې ښه شکل ولري وده ورکول وي . د انار ونو ته لږه او يا هيڅ ټريننګ يعنې روزنه نه ورکول کېږي بې له دې چې د نيالګي د کرلو پر مهال دنيالګي سر پرې شي او ټيټو سرونوته وده ورکړل شي.همدارنګه دا هم د سمون وړ دي چې ونې ته اجازه ورکړل شي تر څو د ۲-۱,۳ مترو پورې څانګې وده وکړي او په ټيټوڅانګوکې دمېوو اوځمکې دتماس څخه مخنيوي وشي.


## کله او څنګه وکرل شي:

هغه مهال چې په لوښي کې کرل شوي نيالګي په خاوره کې کرل کېږي نو بايد کنده ورته د لوښي د اندازې په نسبت تقريباً دوه چنده پراخه او معمولي زياته ژوره وکېندل شي.
کندې ته بايد سره علاوه نه شي او يا هم د بوټي د کرلو سره سم بايد سره کندې ته اضافه نشي.
مخکې له دې چې نيالګي سره جذب کړای شي د باغ په خاوره کې د ودې لپاره وخت ته اړتيا لري د کندې په منځ کې د خاورې يوه ټوپۍ (Mound) جوړه کړئ او د ريښو پنډوسکې په کې ځای پر ځای کړئ . په کوم ژوروالي چې نيالګي په لوښي کې وه په هم هغه ژوروالي يا لدې لږ زيات بايد د ريښو پنډوسکې د باغ په خاوره کې ځای پر ځای شي .
د کندې په منځ کې ټوپۍ يا لوړې برخې (Mound) ته خاوره اضافه کړئ او په کراره يې وټپوئ تر هغې پورې چې د نيالګي خاوره د ځمکې سره برابره شي. کندې ته بايد هيڅ ډول مواد لکه سره يا کمپوست اضافه نشي .
د لوښي څخه نيالګي ډير په احتياط سره لرې کړئ . که چېرې په لوښي کې د کرل شوي نيالګي ريښې په بيخ کې غير منظمې او يو په بل کې ننوتي وي بايد په هغه ځای کې قطع شي چېرته چې غير منظم يا تاو راتاو شوي وي او که چېرې ريښې تاو راتاو شوي وي کولای شو چې جدا يې کړو او يا يې قطع کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېري د ریښو پنډوسکه کلکه غښتلي وي نو باید د چاقو په واسطه له څو اړخونو څخه ووهل شي تر څو د ریښو خاوره سسته شي . انار باید همغه اندازه چې په لوښو کې وو یا لدي لږ لوړ وکرل شي .
کله چې نیالګي په کنده کې کرل کېږي د ریښو د پنډوسکې ګرد چاپیري باید خاوره واچول شي او په احتیاط سره کلک وټپول شي . کندي ته دومره خاوره باید اضافه شي چې د ځمکې د سطحي سره برابره یا لږه لوړه پاتي شي او لدي وروسته یې په بشپړ ډول اوبه کړئ تر څو په خاوره کې د هوا کڅوړې له منځه لاړې شي او که چېري نیالګي یې بې ځایه شي باید بیرته خپل حالت ته رواړل شي او نوره خاوره ورسره اضافه شي .
که چېري د نیالګي ریښې لوڅي وي نو باید په مناسبه اندازه ورته کنده وویستل شي ترڅو په کې د ریښو سیستم ځای پر ځای شي . کندي یا سوري ته باید نور اضافي مواد لکه سره او کمپوست علاوه نشي او نیالګي باید د ځمکې د سطحي سره سم وکرل شي . زیانمنه ریښه باید د زیانمني شوي برخي څخه شاته پرې شي . خاوره باید د دوباره ډکون لپاره وساتل شي . د کندي نه له راایستل شوي خاوره څخه باید تیرې ، واښه او پاتې شوني لرې شي او لوټې دي مېده شي . او کچېري کنده ژوره وي نو بهتر خبره داده چې نیالګي د ځمکې د سطحي سره سم په کنده کې ځای پر ځای شي او د دوباره ډکون لپاره دي خاوره استعمال شي تر څو د ځمکې د سطحي څخه لږ پورته ځای پر ځای شي .



اوبه:
کله چې ونه کېنول شي ښه یې اوبه کړئ د وروستي ځل لپاره د خاوري اصلي کرښه وګوری. که چېري ونه کېښني دا هغه وخت دي چې ونه بیا خپل درست حالت ته وخوځول شي چې د خاوري سطحه د تنې په مقابل کې په عین حال پاتي شي په کومه سطحه کې چې نیالګي په لوښي کې وه . د یوي عمومې قاعدي په شکل ، له دي وروسته چې خاوره نشست وکړي نو لومړی باید ترینه غټه ریښه قطعه شي.
د نوي کېنول شوي ونې د اوبو کولو لپاره ډنډوکي جوړ کړئ او دا یقیني کړئ چې اوبه د نیالکي د تنې نه لري شي. ډنډوکی باید دنیالګي د کېنولو د کندي څخه لږ پراخه وي. ددي لپاره چې ټولو ریښو ته اوبه ورسیږي، د ریښوحجم په نسبي ډول خصوصاُ په لومړني وده ایز فصل کې محدوده ساحه اشغالوي نو په وار وار اوبه کولوته ممکن اړتیا وي تر هغه چې ریښې ځای په ځای کېږي، ډنډوکي یو وار یا دوه واره له ګرمو اوبو ډک کړئ او کله چې یخني او یا باران وي دا کار ډیر ځلي کم کړئ. په لوښي کې د لویې شوي ونې او یا د لوڅو ریښو ونې د ریښو پنډوسکې باید د اوبو پواسطه لوند شي ځکه چې دوي د خپلې شا او خوا خاوري څخه ترکومه چې پکې دوي وده کوي اوبه نه شي ترلاسه کولای، په ژمي کې ډنډوکې هوار کړئ. ترڅو ونه د باران په ټولو شویو اوبوکې ونه دریږي. د ونې د تنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو مترکې ځمکه باید د وښو هرزه ګیاوو او داسې نورو څخه چې د ونې سره سیالي کوي پاکه وساتل شي.
د ۷،۵ څخه تر ۱۵ ساتني مترو پورې ضخیمې خزلي لکه د لرګي ټوټې او یا د وښو ټوټې د هرزه ګیاوو په کنترول او د رطوبت په ساتنه کې مرسته کوي. دا خزلي باید د تنې څخه ترڅو ساتني مترو پورې لرې وساتل شي ترڅو د تاج خرابیدل (Crown Rot) د پیښیدلو رامنځته کېدل کم کړي او هم د حشراتو د پنډیدلو ځایونه له منځه لاړ شي.

## که اړتیا وي ستنه ورکړئ:

تر هغې چې ونه کره شوې نه وي ستنې ته اړتیا نه لري. که چېرته ستنو ته اړتیا وي نود ونې په مقابل لوري کې د همېشنې باد په مقابل کې باید عمودا ځای په ځای شي. ستنه په خاوره کې دومره ننباسې چې د ستنې سر یو څو اینچه د ټیټ ترینې اصلي ځانګي څخه ښکته وي. کوږ شوې ځای باید له غوټې تقریباً ۱۵ساتني متره په اندازه لوړې وي یعنې۲/۳ یا ۱/۲ د ونې پورته برخه وي. ددې لپاره چې د غوټو پواسطه د ونې د پوستکې له خرابېدو څخه مخنیوي وشي د ربړ د ټوټو څخه ګټه واخلې. دونې شا او خوا ښه وتړې او هر یو د ستنې سره ونښلوئ. غوټې باید سستې وي ،ترڅو ونه وکولای شي وخوځیږي او د ونې تنه غټېه او وده وکړي.

## د کېنولو پر مهال د لمر له سوځیدلو څخه ساتنه:

د نوي کېنول شوي ونې پوټکې په ډیره اساني د زیات لمر پواسطه زیانمنېدلای شي . کله چې زخمې شي نو په ډیره اسانتیا د سوري کوونکو حشراتو تر حملې لاندې راځي. د ونې د کېنولو څخه وروسته د لمر د سوځولو د مخنیوي په خاطر د ونې پوټکې په عاجل ډول په سپین رنګ چې په اوبو رقیق شوي وي د خاورې د سطحې څخه په ټوله تنه د بیدو غوټیو (Dormant bud ) په شمول رنګ کړئ .

## د نویو کېنول شویو نیالګیو روزل او ښاخه بري :

د نیالګي له کرلو څخه وروسته نیالګي د 70-60 ساتني متره په اندازه باید غوځ شي او لدې وروسته دې له 5-3 پورې متناسب اصلي شاخونو ته وده ورکړل شي چې ټیټ ترین ښاخ باید د ځمکې نه لږ تر لږه د 25-20 ساتني مترو څخه ټیټ نه وي .
ښاخونه باید د ژمې د کر په تعقیب 3/5 برخې په اوږدوالي لنډ شي او د 3-2 پورې غوټې باید په هر ښاخ کې پاتې شي . مزاحمې څانګې او بچګې باید له منځه یوړل شي او د هر اساسي یا اصلي ښاخ په سر باید دوه یا درې څانګې پرېښودل شي.
که چېرې وغواړو چې په زړه پورې ونه لاس ته راوړو باید 5-3 پورې هغه ساقې غوره شي چې قوي او نورې ساقې باید له منځه یوړل شي . په انارو کې لنډو او نیغو ښاخونو ته تر جیع ورکول کېږي ځکه چې دوي په اساني سره نه کړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مېوه يې د لمر شديدو شعاوو ته مخامخ وي او همدارنگه د لمر سوزيدل د فصل په دوران کې وروسته کېږي . لمر ته ډېره مخامخ کېدنه د انارو د زړو يا دانو د په زړه پوري سور رنګ د له منځه تللو باعث گرځي.
د انارو تنه د ودي کولو تر څنګ په سپرنګ مانند‌ه او منحني ډول بدلیږي او د بوټي (Bush) ته ورته خواصو له امله په اساني سره بچکي توليدوي.
او د دي دواړو خصوصياتو ترکيب ځيني وختو نه د تني سره نږدي کله کله د خاورو د سطحي څخه لاندي bulge (غونډ شكل) تشكيلوي . بايد احتياط وشي چې اوبه د bulge او د تني تر منځ غونډي نشي ځکه چې د Phytopthora د توليدو باعث گرځي . په عام ډول بايد پاملرنه وشي چې تنه وچه وساتل شي .
ولي د انارو ونې ښاخه بري کېږي؟

- تربيه کول يا "Training" يو قوي ساختمان ته وده او انکشاف ورکوي چې له ماتيدلو يې مخنيوی وشي او د دروند حاصل تکېه څنگه وکړي.
- تربيه کول ځوانه ونه په لږ عمر کې په حاصل راولي.

يو مهم هدف د ونې په تربيه کولو کې دادي چې د ونې ټولي سرچېني د مېوې د توليد لپاره هم استعمالېږي نه يوازي د بدني ودي لپاره. تربيه کول د ونې د اساسي ښاخه بري، د غټې مېوې د لاس ته راوړلو او د حاصل او حشراتو د کنټرول لپاره ښه بريښي. ځواني ونې د اصلي څانګو د جوړولو لپاره چې پراخه زاويي ولري ښاخه بري کېږي څانگي چې ښې فاصلي ولري د ډېر حاصل د تکېه کولو توانمندي بې له ماتيدلو لري. که چېري د انارو په زړه پوري نيالگي لاسته راوړل مو هدف وي کولای شو چې د ۳-۵ پوري ساقي چې يو شان فاصلي ولري بايد پريږدو. د زړو ونو ښاخه بري د لاندي مقاصدو لپاره ترسره کېږي :

۱. د کمزوري کېفيت مېوو ورکوونکې څانگي بايد په هغه فصل کې چې وختي غوړيدنه تشوقوي کمې او يا له منځه يوړل شي او يا هم هغه څانگي چې ناوخته غوړيږي او د کمزوري کېفيت مېوې توليدوي بايد لري شي.
۲. د څانگو ترمنځ د مناسبي فاصلي ساتل ترڅود رڼا او دواپاشي دموادو نفوذ ته اجازه ورکړل شي.
۳. د مطلوب شکل ، لوړوالي او پلنوالي ساتل.

## د انارو د ونې د ښاخه بري عمومې دودونه :

- ونه د کېنولو په مهال شاخبري کړئ ترڅو تنه د ريښو سره توازن پيدا کړي.
- ځوانې ونې په سپک ډول شاخبري کړئ.
- بالغې ونې درندي ښاخه بري کړئ ، په تيره بيا هغه ونې چې لږه وده يې کړې وي قوي کېږي. د ونې چترئ (Canopy) بايد خلاصه وساتل شي ترڅو د کلنۍ مېوې ورکونکې څانگي جوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. په انارو کې مېوه معمولاً د چترۍ نه بهر تشکېلیږي چې پدې ځای کې د لمر رڼا زیاته ګټوره ده.


- هغه مهال چې د ژمي د لومړي وخت یخ او د مني تېول خطرونه تیر شي ښاخه بري وکړئ خو د پوره غوړیدني څخه د مخه چې د زخمي کېدلو او ناروغیو خطر کم وي. ځکه چې د انارو ونه ژر غوړیږي او په پایله کې تېول او یا ډیر ګلان او ځواني مېوې په وار وار یخ وژني.
- کله چې لږ او یا هیڅ حاصل نه وي درنده ښاخه بري وکړئ .
- د ونې لوړه برخه د ونې د ټيټې برخې په نسبت درنده ښاخه بري کړئ ځکه چې په سر کې ډیره بدني وده منځ ته راځي.
- ښه ښاخبري شوي څانګې تر پایه په بالغه ونه کې رنګړئ (Thin out) کړئ دا کار په پاتي څانګو کې دمېوې شکل غټ او کېفت یې ښه کوي.
- ښاخه بري لوړوالی کنترولوي چې په نتیجه کې یې حاصل په اسانۍ سره راټولیږي او د ونې مېوې نیول برقراره ساتي ( لوړي ونې زیاتي مېوې نه تولیدوي ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاندي انځور کې د ونې ساختمان او تشریح کتلای شئ.

د مېوه داري ونې عمومي جوړښت




**د روزنې سیستمونه** (**Training System**):

انار کېدای شي چې د یوې ونې په شکل (معمولاً د منځ خلاص یا د ګلدان د ساختمان په شکل) او یا هم دڅو ساقو لرونکو ونې په شکل چې د ۳-۵ پوري ساقي ولري وکرل شي کوم چې د انارو طبعي مېلان دي. د ودي په لومړیو دوو کلونوکې باید انار ښاخه بري شي ترڅو وده وکړي او د ۳-۵ پوري اساسي ښاخونه رامنځته شي، که څه هم نوموړي ساقي د یو بوټي او یا که د اساسي ښاخونه په شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې یو د بل سره مساوي فاصلې ولري او د یوې ساقې څخه یې وده کړې وي.د انار بوټي د بچګیو د تولیدولو مېلان لري نو باید نوموړي بچګي له منځه ولاړ شي ځکه چې بچګي ودې ته تغیر ورکوي یعني ونه د مېوې نیونې پر ځای ودې خواته تشویقوي.

لومړي کال: په لومړي کال کې د کرپه وخت کې د نیالګي پورته برخه غوڅیږي او په دوبي کې ورڅخه بچګي لرې کېږي.

دوهم کال: په دوهم کال با قاعده ښاخه بري او د بچګیو لرې کول د استراحت په وروستیو کې شروع کېږي او همدارنګه اضافي بچګي په اوړي کې لرې کېږي. د کر څخه وروسته د لومړي ژمې په دوران کې ښاخونه 1/3 برخي ښاخه بري کړئ. همدارنګه مزاحمې څانګي باید لرې شي او د۳-۵ پوري ښاخونه پاتي شي.


دریم کال او له هغې وروسته: کلنۍ سپکه ښاخه بري باغ مېوې نیونې ته تشویقوي. د انارو باغ دوامداره او زیاتې ښاخه برۍ ته اړتیا نه لري. د ژمې په وروستۍ برخه کې مړې او زیانمنې څانګې او همدارنګه بچګي باید د لیدو سره سم له منځه یوړل شي. درنده ښاخه بري د کم بار نیولو سبب کېږي

## د ښاخه برۍ ډولونه:

د سر پرې کول (Heading یا Heading Back)او رنګړي کول(Thinningیا Thinning out ) د ښاخه برۍ دوه اصلي ډولونه دي.

۱. د سر پرې کول:

د سر پرې کول هغه پرې کول دي چې په هغه کې نیالګي یوې ستې ،اړخیزي غوټې او یا وړې اړخي څانګې ته نېږدې پرې کېږي. د قوي شاخبرۍ سره په تړاو د سر پرې کول د پرې کړل شوي ځای څخه لاندې د ګڼې ودې سبب ګرځي.



د ستې او اړخي څانګې پرې کول


۲. رنګړي کول:

د هغه اړخیز شاخ رنګړي کول دي کوم چې په لاندې برخه کې وي چېرته چې د بل اوږد ښاخ نه لنډ وي او یا ورپورې نښتې وي. د ډېرو ښاخونو لرونکې نبات رنګړي کولو ته تر بل هر بوټي ښه جوړ دی ځکه چې ډېر خلاصیږي او خپل د طبیعي ودې خاصیت ساتي او معمولاً یو واري قوي وده د پرې شوي ځای څخه نه تولیدوي. د ونې څانګې یا پاڼې د ونې داخل خواته وده کوي ځکه چې د ونې چترۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیره ړنا ننوځي . په استثنايي ډول کله چې نيالګي تازه کرل کېږي شاخبري يې بايد اکثرا د رنګړي کولو پواسطه ترسره شي.




مخکې

وروسته

د B توري د سر پرې کول ښايي پداسې حال کې چې د A توري د يو اړخيزو څانګو رنګړي کول ښايي.

## په لومړي کال له کېنولو څخه وروسته د انارو د ونو اوبه کول:

د انارو د اوبو اړتيا د ستروسو د اوبو د اړتيا سره يوشان والی لري يعنی په کال کی د ۱۲۵-۱۵۰ سانتی مترمکعب اوبو ته اړتيا لری. په هغه سيمو کی چی په وده ايز فصل کی په کافی اندازه باران ونه لري نو بايد د انارو نيالګی د ۷-۱۰ ورځو په جريان کی اوبه شی او کچېری خاوری سپکی او يا درمېانه سپکی وی نو نيالګی زيات اوبه خورته اړتيا لری ولی په درندو خاورو کی کمو اوبوته اړتيا ليدل کېږی.

په کاليفورنيا ،اسرايل اود اروپا په ځينو توليدونکو ساحوکی د انارو باغونه ځينی وختونه په قطره يي اوبه خور يا د شيندونکی اوبه خور په شکل اوبه کېږی.

کله چی نوی نيالګی کرل کېږی نو بايد د قطره يی اوبه خور يا د شيندونکی اوبه خور آلی نيالګيو ته نژدی ځای پرځای شی اويا هم دوه اوبه شيندونکی د يو نيالګی په سراستعمالو ترڅو د نيالګی د ريښو ساحی ته په مساوی شکل اوبه ورسيږی. کله چی نيالګی وده وکړی نو بايد دنيالګيو ترمنځ يو اوبه شيندونکی الی ته انتقال شی.

خو بايد نوموړی اوبه شيندونکی د ريښو ټولو برخو ته اوبه ورسوی د لوڅو ريښو نوي کېنول شوي نيالګي د کېنولو څخه وروسته که چېرته خاوره درنده وي او ونې د خوب په لانده موسم کې کېنول شوي وي د کرلو څخه وروسته بايد يو مخيزاوبه نه شي . معمولاً په خاوره کې د ريښو د را پيدا کېدو لپاره کافي رطوبت موجود وي او په ډندونکې کې يو مخيز اوبه کول په درنو خاوروکې د هوا خاليګاوي دمنځه وړي چې غيرهوازي (anaerobic) حالت منځ ته راوړي چې کولای شي ونې د منځه يوسي.

که چېري خاوره ريګي ،نرمه او وچه متېنه وي او نيالګي په کې کرل شوي وي د ډندونکې په شکل اوبه کېداي شي. د کافي رطوبت د ډاډمن کولو لپاره خاوره بايد په مکمل ډول لمده وي مخکې له دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه مړاوې شي د ډیرو اوبو د مخنیوي لپاره باید اضافي اوبه لرې شي. متناوب لمدول او وچول د ریښو د ودي د اړتیا وړ اکسیجن ته اجازه ورکوي چې خاوري ته د ننه شي.
د ځوانو ونو اوبه کول د سرې ورکولو په پرتله ډیر مهم دي. ځواني ونې د ریښو یو محدود سیستم لري نو اوبه کول باید په وار وار تطبیق شي. د یوي عمومي قاعدي په څیر که چېرته دوه اونې بې له ۲،۵ سانتي متره بارانه په نویو کېنول شویو نیالګیو تیري شي نیالګي باید اوبه شي . اوبه کول د کلونو کلونو لپاره ضرور دي او اوبه کول په لومړني کال کې د ودي لپاره حیاتي ارزښت لري. ځواني ونې په مني کې ډیر لږ او یا کله کله اوبو ته اړتیا لري. په استثنایي ډول په ډیره شدیده وچکالۍ کې دا به ډیره ښه وي چې د خاوري رطوبت ته د وختي استراحت اجازه ورکړل شي تر څو په مني کې د رطوبت کموالي تشویق شي. د یخني او یا باراني موسم د پیل څخه وړاندي د ډنډونکې شا او خوا خاوره لرې کړي. د ځوانو ونو دپاره دا ډیره ښه ده چې په اونۍ کې دوه واري اوبه شي او د مارچ او جون په مباشتوکې مطلوبه اندازه رطوبت د خاوري په لوړه طبقه کې چېرته چې ریښې وي وساتل شي. خصوصاً د پاڼو د غټیدني، غوړیدني او د مېوې د غټیدني په لړ کې د خاوري ډول چې څنګه ښه خاوره کولای شي اوبه وساتي تاثیر کوي.
د ډیرو اوبو علایم Symptoms of too much water :
د پاڼو ژړیدل چې غور ځیږي او د ریښو خوسا کېدل .
د ډیرو لږو اوبو علایم Symptoms of too little water :
د پانو ژړیدل او لویدل او وړې مېوې توئیدل.

## ۶. د باغ اداره او تنظیم **Orchard Management** :

### د رسیدلي باغ پاملرنه کول

دانارو ونې دې دښه شکل او جوړښت له پاره په ژمي کې شاخه بري شي. په دې ښاخه برۍ کې دونې لوړوالی دغوښتنی وړ اندازی ته رسیدای شی. ماتی ،کړی، او مزاحمت کونکی څانګی دی لری کړل شی.
که د ونې دننه خواته د ونې مرکز خلاص پریښودل ضرورت وي نو د اوړي په موسم کې شاخه بري کولای شی چی دا اړتیا پوره کړي.

## دبچګیو او سکرونو پرې کول:

هغه نوي نیالګي او یا لښتې کومې چې د تنې، ریښو او دپیوندي برخې څخه ښکته رازرغونېږی باید ټولې پرې شي او همدارنګه هغه څانګې چې د ونې یوې خواته زرغونېږی او د ونی توازن خرابوی هغه هم باید دښاخه برۍ په وخت کې پرې شی. انار د ریښو څخه دبچګیو ویستلو ته مېلان لری.
**هرزه وانښه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرزه واښه زیاتره وخت په لاس سره او یا په رمبي سره ویستل کېږي، نوموړی کاردی په سرسری توگه ترسره شی ترڅو دریښو دزیان لامل ونه گرځی.
C: دانارو ځوانو او پخو ونو ته سره ورکول: زیاته سره ورکونه دمېوې دپریوتلو لامل گرځی.

## په کلیفورنیا کې په نمونوي ډول دسرې استعمال:

نایتروجن دزیات مصرفه عناصرو دډلې څخه دښه حاصل او ودی له پاره یو اغیزمن عنصردی چې دنایتروجنی سری (امونیم نایتریت) په ډول چې زیات مشهور دی دلاس په ذریعې سره ونو ته په لومړیو دوه کلونو کې اچول کېږي چې دا مقدار دڅلورم کال پوری زیاتیږی.ددریم کال په شروع کې دې دغه سره دباغدارۍ دتراکتور او یا شیندونکی ماشین په وسیله وپاشل شی.
په لاندی جدول کې د خالص نایتروجن اندازه دکېلو گرام له مخی او یا د امونیم نایتریت ۳۳٪ سرې اندازه یو هکتار باغ ته سفارش شویده په هغه صورت کې چې په یو هکتار باغ کې ۳۳۱ ونې کرل شوې وي:

| عمر | خالص نایترجن کېلوگرام | امونیم نایتریت کېلوگرام |
|---|---|---|
| لومړی کال | 19 | 57.6 |
| دوهم کال | 30.5 | 92.4 |
| دریم کال | 50.5 | 153 |
| څلورم کال او دهغی څخه وروسته | 114 | 345.5 |

دا کېدای شي چې په منی او یا ژمی کې په یو ځل سره استعمال شی. په سپکو خاورو کې یې په وقفه ایې ډول استعمال اړین دی ، لومړی ځل دی د منی په وروستیو کې استعمال شی اوپاتی برخه دی په پسرلی کې.
په زیاته اندازه نایتروجن او ناوخته دسرې استعمال کولای شې چې دمېوی پخیدنه او رنګ وځنډوی.
ځینو څیړنو ښودلې ده چې دزیات نایتروجن استعمال دونی د بدنې ودې او دکمې مېوې تشکېل رامنځته کړی دی. نایترجن کېدای شې چې په مختلفو شکلونو سره استعمال شی:
دامونیم نایتریت ( ۳۳-۰-۰) ، امونیم سلفیت (۲۱-۰-۰) کوم چې عامه سره ده، یوریا (۴۶-۰-۰) کوم چې دنایتروجن غوره سرچینه ده.
که چېری دخاوری PH د 6.5 څخه پورته وی، دامونیم سلفیت سرې (۲۱-۰-۰) دنایتروجنی سرو دسرچینې په توگه کوم چې دخاوری دتیزابیت سره مرسته کوی استعمالیږي. که چېری دخاوری ph د 6.5 اویا ښکته وو نو د نایتروجن بله منبع دې استعمال شی. که چېری یی PH د 7.5 څخه لوړ وی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاسفورس سرې دې نه استعمالېږي. په عمومي ډول سره القلي خاورې دانارو د روزلو له پاره مناسبې نه دي.
سرې دې په شيندل شوي ډول سره د نيالگې د څانگو دپراخوالې په امتداد سره واچول شي. دسرې داستعمال له امله دسوزيدو د مخنيو په خاطر دي کېمپاوي سرې د ونې دتنې څخه ۲۰ سانتې متره لرې واچول شي.
دسرې داستعمال څخه وروسته دې اوبه خور ترسره شي ترڅو استعمال شوې نايتروجن دريښو طبقې ته ورسيږي. دغذايې موادو او اوبو د رقابت دمخنيوي په خاطر بايد دخاورې سطحه لوڅه شي چې د سطحې خيشاوې، دگياه وژونکو په استعمال او عضوې ملچ سره هرزه بوټي لرې شي.
دسرې زياته اندازه بايد استعمال نه شي، دنايتروجن زيات استعمال د څانگو دزياتې ودې ، ناوخته مېوه نيونې، کمزورې رنگ او خوند ، دمېوې ناوخته پخيدنه، او هم امکان شته چې دژمي يخ د ونې د زخمونو دحساسيت لامل وگرځي. همدارنگه دنايتروجن ناوخته او وروسته استعمال يعنې د جولايې د نيمايې څخه وروسته استعمال په ژمي کې ونې له استراحت څخه وباسي.
داسې شواهد او ارقام وجود نه لري چې وښايي د فاسفورس او پوتاشيم استعمال په انارو کې د ونې وده او يا دمېوې جنسيت ښه کړي.په زياتره وختونو کې د جستو Zn کمښت په انارو کې ليدل کېږي، دغه ستونزه په ژمي او يا دپسرلي په سرکې په پاڼو باندې د جستو د پاشلو په اساس حل کېداى شي.
نايتروجن N او جست Zn په نمونوي ډول دانارو له پاره يوازينى سرې دي. نايتروجن د زيات مصرفه Macronutrients ، او جست Zn دکم مصرفه عناصرو دډلې څخه دى کوم چې په ډير کم مقدار سره په ونه کې دکمښت دنښو دليدلو څخه وروسته استعماليږي.
په انارو کې دسرو داستعمال عمليې دنورو انارو توليدونکو هيوادونو څخه:
اسرايل Israel: په کال کې د يوهکتار باغ لپاره د kg 200-300 يورې سره استعمالوي، پوتاشيم هم په همدې اندازه سره د K2O په شکل سره استعماليږي. حيواني سرې په نمونوي ډول سره استعمال نه لري.
هسپانيه Spain: دسرې استعمال تر هغه يورى نه سفارش کېږي ترڅو چې په پاڼو کې دکمښت نښې ونه ليدل شي، دسرې استعمال دسرې په وسيله د ککړتيا څخه دمخنيوي په خاطر محدود شوي دي نو په دي اساس دسرو داستعمال زياته اندازه په لاندې ډول ښودل شويده:
لاندې اندازه بايد زياته نه شي:
۱۱۰ واحده نايتروجن، ۸۴ واحده فاسفورس، ۲۳۴ واحده پوتاشيم او ۲۵ واحده مگنېشيم دې د سيلابي اوبه خور په صورت کې استعمال شي. په قطره يې اوبه خور کې د زغم اعظمي حد ۸۵ واحده نايتروجن، ۶۷ واحده فاسفورس، ۱۸۷ پوتاشيم او ۲۰ واحده مگنېشيم دي.که چېرې دعضوې سرې هره اندازه استعماليږي بايد دنايتروجن د زغم لوړه اندازه دپورته ښودل شوې اندازې څخه معالومه کړل شي.
که چېرې سيلابي اوبه خور سيستم په کار اچول شوى وي نو دنايتروجن اندازه دې په لاندې ډول سره په مياشتو تقسيم کړل شي کوم چې لومړى ځل اوبه خور دغوټيو دماتيدلو سره سم شروع کېږي:
مياشت دسرې اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| مارچ | ٪۵ |
| اپریل | ٪۲۵ |
| مۍ | ٪۲۵ |
| جون | ٪۲۰ |
| جولاۍ | ٪۱۵ |
| اګست | ٪۱۰ |

## دعناصرو دکمښت د نښو پیژندل:

په انارو کې دنایتروجن او جستو دکمښت نښې زیاتره وخت د ونو په پاڼو او کله کله په میوو،عمومي وده او یا په لښتو کې لیدل کېږي. چې دا په نمونوي ډول سره هغه نښې دي چې انار یې ښیي.

که چېرې نایتروجن کم وي، دمېوو د ونو زړې ښکتنۍ پاڼې کېدای شي چې زیړې شي، نهایي څانګو وده کمېږي، ونه دمېوې دحاصل څخه غورزیږي او یا یې حاصل کمېږي.که چېرې نایتروجن زیات شي ، بدنې وده کېدای شي چې تیزه شنه شي، خو دمېوې تشکېل کېدای شي چې کم شي او دمېوې پخیدنه د عادي حال څخه ۷۱۰ ورځو پورې ځنډیږي. نو باید هر یو ددواړو پورته حالتونو څخه دنایتروجن کمښت او هم دهغې ډیرښت رامنځته نه شي.

دنوې ودې زیږې پاڼې تل داوسپنې او جستو دکمښت ښکاروندویې کوي او په شدیدو حالتونو کې دونې داخلي برخه کېدای شي چې زیړه شي.

دجستو Zn دکمښت نښې په پسرلي کې زیاتې روښانه معالومېږي، ونې پاڼې او ګلان وروسته غوړوي، پاڼې کوچنۍ او کله کله د رګونو ترمنځ زیړوالی ښایي پاڼې یې تاوې شوې وي.ځینې وختونه د بندونو ترمنځ فاصله یې کمه وي، وروسته بیا په راټلونکې وده کې نوی وده نومورې نښې پټوي.

دجستو کمښت په تیزه وده کونکو ځوانو ونو او په الکلي خاورو کې په کرل شویو نیالګیو کې زیات لیدل کېږي همدارنګه ددوبی په نیمایې کې په ځوانو ونو کې هم لیدل کېږي. په خاورو کې دجستو استعمال غیر اقتصادي عمل دی ځکه چې په ریښو کې زیات جذبیدونکی نه دی اوهم په نباتاتو کې یوغیرمتحرک عنصر دی. دجستو دکمښت دمخینوی کامیابه لاره په پاڼو باندې د زنک سلفیت (طبعي زنک 52%) یا دجستو 14% کلیتونو استعمال دی. نومورې استعمال د وده ایز موسم په هر وخت کې ترسره کېدای شي خو کېدای شي چې دپاڼې دسوزیدو لامل وګرځي. دجستو استعمال دحاصل د ټولولو څخه وروسته او داستراحت په مرحله کې ډیر غوره دی، په عمومي ډول، په پاڼو باندې د یو ځل شنیدنې له پاره محلول بایدپه یو هکتار کې د 2.2-1 کېلو ګرام اساسي جستو درلودونکی وي.

په لاندې شکلونو کې د جستو د کمښت نښې په انارو کې نه بلکې دانارو دکمښت نښې له دې سره ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پــه کــی وی فــروټ کــې دجــستو دکمــبنت نــښه



دشفتالو په پاڼو کې دنایتروجن دکمبنت نښه

**E. اوبه خور:**

دمېوې د نیونې او تشکېل له پاره منظم ډول اوبه خور ضروري دی. دخاورې یوشان رطوبت د ونې دقوت دساتلو، حاصل ورکونې او دمېوې دسایز له پاره ضروری دی. په لومړی کال کې دکرل شویو نیالګیو دريښو دښه تشکېل له پاره مناسبې اوبه ورکول مهم دی. اوبه خوردی د وده ایز فصل دشروع څخه په پسرلی کې شروع او دحاصل داخستنې څخه وروسته وخت پوری دوام کوی.

دسطحي اوبه خور څخه دی ډډه وشی، مکرر سپک اوبه خور سطحي ریښې تشویقوی کوم چې دریښی د ورستیدنی د پیداکېدو لامل ګرځی او په تنه او ریښو باندی یرغل کوی او ونه وژنی.

کم تکراری او ژور اوبه خور غوره دی. ونی دی په ژور لوندوالی سره په هرو ۷-۱۰ ورځو په وقفه کې اوبه شی خو دا په موسم او هوا پوری تړلی پروسه ده.

په پخو باغونو کې داوبه خور اندازه په اقلیم او خاوری پوری اړه لری. دعمومی قاعدی له مخی دی په پسرلی کې 15m3 د ورځی له پلوه یوهکتار باغ ته (سره ددی چې اوبه خور شاید هفته وار شکل سره وی،خو پورته اندازه د ورځی په بنیاد سره اوسط دی).پورته ورځنۍ اندازه دی تر 350 m3 پوری دیوه هکتارباغ له پاره ددوبی په موسم کې دحاصل اخستلو تر وخته زیاته کړل شی.دیوه موسم له پاره به داوبو ټوله اندازه 6000m3 په یو هکتار اوسی سره د بارانه کوم چې په یوه موسم کې 4500m3 په یوه هکتارکې اوري،که چېری باران کم اوري نو دباران داندازې په تناسب سره دی ورسره اوبه زیاتی شی ترڅو دباران اوبه پوره کړی.

کم اوبه خور به دمېوی خراب سایز، دمېوی دزیاتی غورزیدنی، فشار لاندی ونو او کېدای شی چې دراتلونکی ګل کونی اندازه کمه کړی.

دحاصل دټولونی څخه وروسته دی کم اوبه خور ترسره شی. دژمی اوبه خور څخه دی ډډه وشی لکه دحاصل داخستلو په وخت کې چې د دروند اوبه خور. که غواړئ چې دمېوی اندازې ته انکشاف ورکړئ نو کله کله دی په ژمی کې اوبه خور صورت ونیسی. ددی څخه وروسته اوبه خور به د سپر داوړدیدلو، بدنی ودی او په پسرلی کې دغیرمېوه لرونکی ودی لامل وګرځی.

سطحي اوبه کول دقلبي (سپاري) په لیکه او یو مخیزاوبه کول (Gravity Flow): د قلبي یا سپاري لیکې بایدد اوبو څخه ډکې شي .ددي دپاره چې د ریښو ټول سیستم ته اوبه ورسیږي او بیا اوبه تري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويستل شي.غاړي كېداي شي ددي دپاره چې اوبه ديوې څخه تردوه ورځو پوري دكافي جذب لپاره وساتل شي.او څنډې يا غاړې تر راتلونكې اوبه كولو پورې بايد لرې شي.

## د خاوري پر بنياد د مهال ويش مېتودونه (څنګه پوه شو چې څه وخت اوبه ولګوو):

اوبه لګول بايد هغه وخت ترسره شي چې 50% اوبه له خاوري څخه جذب شوي وي.په خاوره كې د اوبو د محتوياتود معلومولو لپاره يو رمبي، بيلچه او ياد خاوري نل را واخلي اود 20 څخه 40سانتي پوري وكنۍ هغه خاوره چې تقريباً 50 فيصده اوبه ولري په لاندي ډول احساسيږي:



پولي لرونكې يو مخيز اوبه خور



څوان باغ د يو مخيز اوبه خور لاندي

د خاوري جوړښت : Soil Texture

ځيږ يا coarse جوړښت: تقريباً وچ ښكاره كېږي چې پنډوسكې جوړوي او خپل شكل نه شي ساتلی.

ښه ګډه خاوره Loamy :

پنډوسكې جوړوي چې څه نا څه د قالب كېدلو وړ دي او كله چې د لاس په ګوتو كېكاږل شي يو نازكه فيته جوړوي رنګ ئې هم تياره وي .

كلی خاوره Clay soil :

يو دا چې ښه پنډوسكې جوړوي او د يو اينچ يا تر هغه زياته يوه فيته جوړوي ، تياره رنګ لري او يو څه چسپناكه هم لري.

واښه او پاڼې ( Mulch ) د مېووځوانو ونو ته ګټوري دي .واښه او پاڼي يا نباتي پاتي شوني لكه توئي شوي پاڼې، د ونې پوټكي ، د وښو توټې، واښه ، د اري بور په خاوري كې رطوبت ساتي ، دخاوري بې حده حرارت معتدل ګرځوي ،او دهرزه ګياو څخه د رقابت په كمولوكې مرسته كوي .د Mulch جوړولو دپاره واښه او پاڼې د 10 څخه تر15سانتي مترو پوري ژوراود تني څخه څو اينچه وړاندي دخاورو لاندي كېږي.د منې په سركې دا واښه او پاڼي لرې كېږي.داكار ريښوته اجازه وركوي چې پوه شي حرارت سړيږي او ژمې راتلونكی دی.نو ونه په فزيالوژيكي ډول ژمي ته په چمتوكېدو پيل كوي.دځلو يا وښو لرې كېدل همدارنګه د موږكانو او نورو خوړونكې حيواناتو د پټيدلو او په ژمې كې د ونې د پوټكي له ژولو مخنيوي كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د مېوې رنګړي کول:

کله چې ټول عوامل مساعد او غوره وي هغه مهال بیا ونه کولای شي چې ښه ډېره مېوه وکړي. په ونه کې د حده زیاته مېوه ممکن ونه کمزوري کړي او لړي غوټي وکړي چې پایله یې د راتلونکې فصل لپاره د حاصل کموالي دي . دروند حاصل کولای شي د کوچني شکل او کمزوري کېفیت د مېوې پایله شي. ددي ستونزو د مخنیوي لپاره د ګل د غوړېدني څخه دوه یا دري اونې وروسته رنګړي کول وکړئ . د حشراتو یا ناروغي پواسطه زخمي شوي مېوې لومړي لرې کړي او د توصیه شوي فاصلي اوسط تعقیب کړئ. مېوه باید د ۷-۱۰ سانتي مترو پوري په هره څانګه کې یو دبل څخه لرې شي چې وړې څانګې یوازې یوه یا دوه مېوې ولري. رنګړي کول باید داسې وشي چې د څانګې په اساس یا بیخ کې کمه او د څانګې څوکې ته نېږدې زیاته ترسره شي ترڅو د څانګې په سرکې د ډېرې مېوې له کبله د قاتیدلو او ماتیدلو څخه مخنیوی وشي او یا هم د مېوې رنګړي کول دفصل په اخر کې څانګې دلمر وړانګو ته مخامخ کوي او د قات کېدلو څخه یې ساتي. هغه مېوې چې د جون د مباشتي څخه وروسته رامنځته کېږي باید له منځه یوړل شي ځکه چې نوموړي مېوې معمولاً په بشپړ ډول نه پخېږي.

دنیالګیو د ځوانۍ په جریان کې (۲-۵ )کالو پوري دکلکو مېوو غورځېدل غیر معمول نه دي.

د مېوو غورځېدل په زراعتي عملیاتو لکه د زیاتي سري او اوبه خور استعمال پوري اړه لري هغه مهال چې وده زیاتوي. ځواني ونې باید د فشار لاندي شرایطو کې ونه کرل شي.

د رسېدلي عمر ونې د ځوانو ونو په نسبت د زیاتو مېوو د نیولو توان لري همدارنګه د مېوې رنګړي کول د مېوو د غورځېدو کچه کموي ځکه چې ونې د زیاتو غذایي موادو دتولیدولو او د زیاتو مېوو په نسبت د رنګړي شوو مېوو دساتلو زیات توان لري.

## ۷. د انارو غټې ناروغۍ ، حشرات او د هغوی کنټرول:

انار ځیني ګډوډۍ، ناروغۍ او حشرات لري، دهیواد په کچه په انارو کې لاندي حشرات او ناروغۍ پیدا کېږي.

په انارو کې ګډوډۍ او د هغوي کنترول.

- د مېوې چاودیدل: باید په منظم ډول اوبه خور وشي. زیاته وچه خاوره د لندي خاوري په نسبت د مېوو د چاودیدلو ناروغي راټیټوي.
- د باران او دلمر د ښکاره کېدو څخه وروسته د مېوې چاودیدل.
- د لمر پواسطه د مېوې سوځېدل: د کافي سري ورکولو ، په بنیادي توګه د نایتروجن استعمال او د قوي ښاخه برۍ په واسطه د پاڼو ښه پوښ باید وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تني یا ریښي ورستیدنه: باید د ذهکشي ښه سیستم وساتل شي تر څو له دغې ستونزې سره مخ نه شي.
- د ښاخونو په وسیله د مېوو ګریدل: مزاحمې څانګې باید لرې شي او د مېوو تر منځ باید مناسبه فاصله وساتل شي ترڅو دغه عمل صورت و نه نیسي.
- د پوټکې توریدل: معمولاً په ذخیره خانو کې دغه عمل په خامو میوو باندې وده کوي. نو باید پخې مېوې راټولې شي او پاکې وساتل شي.

په انارو کې پیداکېدونکې حشري او د هغوي کنترول(نوموړي حشري د نورو مېوه لرونکو ونو د حشرو په څیر تداوي کېږي): په کالیفورنیا کې فقط سپږۍ او چنجي عام حشرات دي همدارنګه په یاد شوي هېواد کې سپږۍ او چېنجي یوازیني معمول حشرات دي.

Leaf Footed Plant Bugs :نوموړي حشرات چې علمې نوم یې leptoglossus sp دي په زیانمن ډول په انارو باندې راټولېږي خصوصاً په هغه وخت کې چې انار په منځ وچوي. خو بیا هم د نوموړو حشرو زیان تر هغه وخته کم وي ترڅو چې تیزابي مواد له چاودلي برخي څخه څخیږي. تر هغه چې تیزابي مواد څخېږي نوموړي حشرات د ژیړې برخې (albedo) د سوري کولو په لټه کې وي مګر نه د داخلي برخې(aril). خوبیاهم ځیني وختونه دوهمې وېروسي پتوجنونه Alternaria او Botrytis په نوموړو سوریو کې راټولېږي. چې د Bacillus thuringiensis او د Leaf Footed Plant Bugs په وړاندې موثر نه دي. خوشبختانه نوموړي حشري سیمه ایزي او له باغ څخه لرې نه خوریدونکې حشري دي یعني نشي کولای چې نږدې باغ مصاب کړي.

اداره: نوموړي حشري په باغ کې د فصل په اخر(اګست او سپتمبر) کې معمولاً نه تر سترګو کېږي.خو که چېري دوي په همدې باغ یا بل نیږدې باغ کې ژمې تیر کړي نوکېداي شي مخکې تر سترګو شي.

زیاتره کلونه د Leaf Footed bug حشراتو نفوس د طبعي مړیني یعني د لوړ حرارت پرازیتي هګۍ و(Gryon pennsylvanicum) په وسیله تداوي شوي دي. په هر ترتیب نوموړي طبعي کنترول په هغه وخت کې چې د ژمې تیرونکو حشرو زیات نفوس وجود ولري د اعتبار وړ نه دي. نوموړي کنترول د پسرلي په وخت کې چې پرازیتي هګۍ فقط بالغ حشرات متاثره کوي په خصوصي ډول د اعتبار وړ دي . دا هغه ژمې تیروونکي بالغ حشرات دي چې د زیات زیان باعث ګرځي.هیڅ ډول کرنیز کنترول تر اوسه نه دي پیژندل شوي چې د leaffooted bug یا د دي د زیان په وړاندې چې په پیسته کې رامنځ ته کېږي موثر تمام شي. خو بیا هم ځیني کرنیزي تداوۍ لکه د باغ څخه د پاتي شونو ټولول کولای شي چې د ژمې تیروونکو حشرو په نفوس کې کمښت رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپړۍ یا **Aphids**:

د سپړیو لړ تعداد د تشویش وړ نه دي، او د سپړیو ډیر نفوس د تاویدلو ، ژیړیدلو او د پاڼو دڅانګو د بي ډوله کولو سبب ګرځي او دوي همدا رنګه کولاي شي د یوي چسپناکې مادي چې د شاتو شبنم ورته وایي د تولید سبب وګرځي چې وروسته د Sooty Mold فنګس د ودي سبب ګرځي کومه چې میوه زیانمنه کوي.





## اداره یا Management :

په لومړي سرکې د حشراتو ضد دواګاني استعمال کړئ .کله چې د سپړو تعداد زیات وي او دوي د پاڼو په تاوولو او بي ډوله کولو پیل وکړي ډیر وخت دا کار ستونزمن وي چې دوي کنترول شي ځکه چې تاو شوي پاڼي سپړیو ته د حشراتو ضد دواګانو او طبعي دښمنانو په مقابل کې پناه ورکوي. چېرته چې د سپړیو نفوس په څو تاو شوو پاڼو یا نوو څانګو ځاي په ځاي کېږي نو په دي حالت کې ښه کنټرول ددي څانګو پري کول دي. په غټو ونوکې ځیني سپړۍ د ونې د ضخیمې چترۍ په دننه کې ښیرازه کېږي . ددي ساحو پري کول د سپړیو لپاره لړ مناسب دي، ساحه د هرزه ګیاو څخه چې سپړۍ ساتي پاکه وساتئ . د نایتروجني سرو ډیره اندازه د سپړیو د بیا پیداکېدو لپاره ډیره په زړه پورې ده. د اړتیا څخه زیات نایتروجن مه استعمالوئ. حشره وژونکې صابون ، د نیم غوړ ، عالي او یا عالي ته ورته پارافیني ډوله تیل د سپړیو موقت کنترول کولاي شي کله چېرته په ټولو پاڼو استعمال شي. د پوره پوښښ لپاره د پورته موادو سره په ډیري اندازي اوبه وشیندئ او د پاڼي لاندي او باندي برخي خپل هدف وګرځوئ. پورته مواد سپړۍ په همغه ورځ چې دوا پاشي شوې وي وژني نو ځکه باید تکرار شي.

سپړۍ **Mites**:

سپړۍ عموما د جسم د پلن والي او هواروالي او د مخکنیو پښو د اوږدوالي څخه پیژندل کېږي ځوانې سپړۍ په مختلفو رنګونو کې لیدل کېږي کېداي شي داغونه او خاپونه ولري او هم کېداي شي چې خاپونه ونه لري. سپړۍ د ژمي په موسم کې منډوکو او وړو څانګو کې هګۍ اچوي نوموړي هګۍ وروسته د پسرلي په موسم کې چوي او د سپړۍ بچې ورڅخه بهر ته راوځي . سمدواره د راوتلو وروسته پاڼو سره تماس نیسي چېرته چې خپله غذا په اساني لاس ته رواړي شي سپړۍ د پاڼي د حجراتو څخه خپله غذا لاس ته رواړي کله چې پاڼي په داسي شکل سره تخریب شي د ونې د ژوند کچه راټیټېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورسره د مېوې په سایز بده اغیزه پرېوځي او یې مېوه اغیزمنه کېږي .هغه پاڼي چې د سپړې (Mites) په ذریعه متضرره شوي وي علایم یې دا دي چې د پاڼې شکل به یې خال ،خال نصواري رنګه وي. هغه ونې چې د مقاومت قوه یې کمه وي د سپړیو زیات نفوس ته زمېنه برابرېږي چې په پاڼو کې تخریبي عمل تر سره کړي ،خو باید دا په یاد ولرو چې د سپړیو زیات تعداد دوه عمده مشکلات رامنځ ته کوي . تقریبا د پاڼو ټول کلوروفیل (Chlorophyll) د منځه وړي او بل دا چې رنګ به یې په زیړ بخن شکل بدل شي . بعضې حشره وژونکې کوم چې د نورو افاتو د مخنیوي په منظور استعمالیږي کله کله ددي سبب کېږي چې په ناځاپي ډول د سپړیوتعداد زیات کړي.

**د سپړیو اداره او کنټرول:** کله نا کله سپړې په طبعي شکل سره د نورو حشرو په زریعه کنټرول کېداي شي خو په عمومې ډول کنټرول ددي سبب ګرځي چې اکثره سپړې اوړي ته پاتي شي او کاملا د منځه نه ځي. په ژمي کې د Dormant oile استعمال کوم چې یو بیولوژکي کنټرول دي د Mites سپړې د کنټرول یوه لار ده خو ددي په زریعه کېداي شي چې پرته له سپړې نوري حشري هم ووژل شي کچېره د 20 فیصده څخه د سپړې هګۍ زیاتي وي




پدي وخت کې یې باید د مخنیوي لپاره د استراحتي سپرې د تیل په لوړه کچه استعمال شي. دي سره کېداي شي چې یو حشره وژونکې هم ورعلاوه شي تر څو د نورو افاتو او حشرو مخنیوي ورسره هم وشي په اکثره باغونو کې د اوړي او پسرلي په موسم کې د Miticides استعمالول غوره دي . خو دا په هغه صورت کې چې سپړیو د خاښونو پاڼي نهایي متضرره کړي وي. Dusting sulfur دوه ځلي یعنې دپسرلي په اخروخت کې (May) او د اوړي په لومړي وخت (June) کې استعمالیداي شي.

## چېنجي Worms :

مختلف چېنجي د هر څه خوړونکو (Omnivorous)په شمول د پاڼو څخه غذایي مواد لاس ته راوړي ځیني وختونه په ونو کې چې کومې مېوې دي هغه هم ددي چېنجیو په زریعه د حملې لاندي نیول کېږي . هغه مېوې چې د چېنجیو په زریعه متضرره شوي وي کېداي شي چې د ونې څخه په ځمکه وغورځیږي دا ځکه چې هغه نهایي تخریب شوي دي ولې کمې تخریب شوي مېوې اکثره په ونو کې پاتي کېږي او خصوصیات به یې دا وي چې ژیړ رنګ به لري ، زخمې زخمې به وي او سطحه به یې زیږه وي . او با لاخره مېوه به یې یوه تغیر شوي اوله اصلي رنګ څخه اوښتې او بد شکله وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چينجي اداره او مخنيوي:

ځرنګه چې چينجي مختلف مراحل لري خو د لاروا په مرحله کې يې دمخنيوي لپاره د (Bacillas thuringiesnsis) په نوم توليد شوې دوا چې په عام بازار کې هم خرڅيږي ډېره اغېزمنه ده.
ځرنګه چې دا دوا ډېره مشهوره او عامه ده نو د ډيرو حشراتو د منځه تګ لپاره مناسب او په زړه پوری علاج دی او ددي تر څنګ يي بله خوبي داده چې دګټورو حشراتو ، مرغانو ، او انسانانو لپاره هيڅ نوعه ضرر نه رسوي.
کله چې نوموړي Bacillas thuringiensis استعمال شي نو Leaf rollers خپله غذا څو ساعته وروسته بندوي . او وروسته له څو ورځو مړه کېږي او له منځه ځي يوه بله نوعه سپرى د Thoroug spray په نامه هم شتون لري چې دا هم د کنترول لپاره ډيره موثره ده خو دا د هغه leaf roller لپاره استعماليږي چې د لاروا په مرحله کې او کوچني وي يعني حد اقل ۱ سانتي متر نه بايد اوږده نه وي . او د نهايي ضرورت استعمال يي د يو ځل څخه زيات دي د ځينو حشراتو له منځه تګ په خاطر بايد (Pesticides) استعمال شي خو ځيني داسي (Pesticides) هم شته چې مفيدي حشري هم وژني لکه د شاتو مچې او Lace Wings ...







## د انارو ناروغۍ، علايم او اداره کول :

ځني ناروغۍ دي چې هم په خامو انارو او هم په پخو انارو کې رامنځ ته کېږي لکه (Alternaria, Botrytis, fruit rots , surface mold) خو Fruit rots اکثره په پخو مېوو کې رامنځ ته کېږي .
خصوصا هغه وخت کې کله چې دوه مېوې يو بل سره ولګيږي او زده شي . دا ډير زر په تورو داغونو بدليږي . انفکشن معمولا په يخي هوا ، باراني پسرلي او اوړي کې صورت نيسي په داسي حالت کې چې مېوه کېداي شي خړېخنه شي او ساحه پتوجن ونېسي. دا کارپه هغه صورت کې کېداي شي چې د انارو مېوه وچوي او داني يي لوڅې شي دغه پتو جنسونه اکثره د دوهمې پتوجن په حيث وروسته د لوڅوالي او د Albedo د سوري کېدو څخه پر مختګ کوي او مخ ته ځي . د حاصل راټولولو وخت کې بايدډير دقت وشي او بايد څومره چې امکان لري زر اداره شي که په باغ کې دوړي او خاوري موجودي وي نو د ګرد سره سپورونه خپريږي فلهذا مېوې بايد په يو خاص ځاي کې ټولې کړاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انارو د حاصل راټولول او سنبا لول:

**د انارو پخوالي:** هغه انار چې د حاصل راټولولو وړ وي معمولاً په دوهمې یا دریمې پاڼو کې تولیدیږي یعني یو کال د کرلو څخه وروسته د انارو مېوې هغه وخت پیک Pick کېداي شي کله چې رنګ یې تیاره سور شي.

د انارو مېوې د ګل د پراخوالي له وجي په مختلفو مراحلو کې ثمر ته رسیږي . هغه حاصل چې کېفیت یې نهایي ښه وي او زمونږ د تقاضا وړ وي هغه په شپږمه پاڼه کې لاس ته راځي یعني د کرلو څخه شپږ کاله وروسته . له یو هکتار (Hectare) ځمکې څخه کېداي شي چې شپږ ټنه انار لاس ته راشي .

**د حاصل د راټولولو لارې چارې:** هغه انار چې تازه په تازه استهلاک کېږي او یا هم پروسس ته نه وړاندې کېږي په ډیر احتیاط سره د لاس په واسطه پیک کېږي ،ځکه چې دا شونې ده که د انارو خارجي پوټکې زخمي یا وګرول شي او یا هم داغي او عیبي شي د هغې په وجه د انارو د مېوې داخلي برخې ته زیان ورسیږي او که زیان هم ور و نه رسي خو دا باید په یاد ولرو چې د زکر شوو ستونزو سره د انارو د مېوې اهمیت په تجارتي لحاظ مخ په ښکته ځي. هغه کسان چې د انارو د مېوې د راټولولو سره سر وکار لري باید مېوې ډیري ژوري راونه شکوي . او نه ډیري رغي . کله چې د انارو مېوې د باغ څخه راټولي شي باید له تیره ښاخونو څخه پاکې شي او په ډیر احتیاط سره په کریټونو کې ځاي پر ځاي شي تر څو د زخمي کېدو مخنیوي یې وشي.

### د انارو د مېوو پروسس:

انار کېدای شی چی جوس او یا هم دجیلی (jelly) په مصرف ورسیږی او که چېری د پوټکو سره مېده شی نو کېدای شی چی په لوړه کچه Polyphenolics ولری. چې په طبابت کې د شربت د جوړولو لپاره یې جوس کېدای شی چی تېینګ او بوره ورسره ګډه شی.

له انارو څخه کېدای شی چی د انارو شربت جوړ شی. د اسیا په ځینو برخو کی انار وچېږی او یا هم د مسالی (مصالحی) د جوړولو په منظور ټکول کېږی.

## د انارو ذخیره کول:

کله چی عرضه د تقاضا په نسبت لوړه وي او فصل اوږدوالی وموميٍ، نو باید مېوی پدی وخت کی په یخو ذخیره خانو کی وساتل شی. د انارو مېوی په 7 درجې د سانتی ګراد او 90 فیصده نسبتی لنده بل کی ساتل کېدای شی. فقط هغه مېوی چی د حشراتو په واسطه نه وی زیانمنې شوې په یخو خونو کی ساتل کېدای شی او هغه مېوی چی د حشراتو په واسطه زیانمنې شوي وي کېدای شی چی په ذخیره خانو کی ورستې شی.

د انارو مېوی کولای شو چی د دریو میاشتو پوری په اسانې سره ذخیره کړو که چېری ذخیره شوی مېوې پخې و نه اوسي نو د پوټکي په بهرنۍ برخه یې نصواری رنګ رامنځته کېږی. کچېری انار تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی حده په ذخیره کی وساتل شی چی پوټکی یي وچ شی نو بیا هم زړی به یی د څه وخت لپاره تازه اوسي. د انارو په ذخیره خانه کی د یخ زیان هم کېدای شی چی رامنځته شی.
پنځه درجی د سانتی ګراد یا لدی ښخه ښکته تودوخه دانارو د یخ د زیان باعث ګرځی او کله چی تودوخه د پنځه درجی سانتی ګراد ښخه کمېږی نو د یخ د زیان نښی لاپسی زیاتیږی او په هغه وخت کی چی مېوی 20 سانتی ګراد خونی ته انتقالیږی نو د یخ د زیان نښی په ښرګند ډول لاپسي ښکاره کېږی، د بیلګی په ډول د پوټکی د نصواری رنګ بی رنګه کېدل،د پوټکو په سطحه دداغونو رامنځته کېدل اوهمدارنګه دورستیدونکواورګانیزمونو په وړاندې حساسیت پیداکېدل یې بېرونی ښکاره نښې دي او داخلی ښکاره نښی یی عبارت دی له :
د تخمونو یا دانو بی رنګه کېدل اوهمدارنګه د تخمونو یادانو د بیلیدونکی سپینی برخی بی رنګه کېدل.



غذايي ارزښت په ۱۰۰ **ml** جوس کې یا دخوړلو وړ برخه کې په **100** ګرامه کې.

| | انار |
|---|---|
| د اوبو فیصدي | **79** |
| کالوري | **70** |
| پروټین (%) | **1.1** |
| چربي | **0.9** |
| کارلوهایدریتونه (%) | **18** |
| خام فایبر (**Crude fiber**) | **0.3** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د انارو د ورځنی توصیه شوې برخې د اړتیا فیصدي | |
| ویتامېن A | ---. |
| تیامېن B1 | 0.2 |
| رایبوفلاوین B2 | 1.2 |
| نیاسین | 1.4 |
| ویتامېنC | 8.9 |
| د انارو د برخي اخیستني محتویات په ملي ګرام سره | |
| کلسیم | 1.0 |
| فاسفورس | 2.8 |
| اوسپنه | 8.0 |
| سوډیم | --- |
| پتاشیم | 5.5 |

## په غذاکې برخه اخیستنه Contribution to diet

دانارو په جوس کې خورا ډیر Polyphenol لکه Hydrolyzable tannins چې punicalagins هم ورته وئیل کېږي موجود دي چې د انارو د پوټکو څخه لاسته راځي.

په ابتدایي څیړنیز لابراتوار او د انسانانو په ازمایښتي څېړنو کې د انارو جو س د زړه د ناروغیو د خطري عواملو د Cardiovascular او arterosclerosis په کمولو کې موثر ثابت شویدي. Tannin چې په انارو کې موندل کېږي د Oxidative فشار د کمولو مسولیت لري همدارنګه انارد Systolic وینې Systolic blood په کمولو کې هم کومک کوونکې ښودل شوي دي. څیړ نو ښودلي ده چې د انارو جوس د Prostate cancer او Osteoarthritis په مقابل کې موثر دي . د انارو جوس کېداي شي چې د ویروسونو او بکتریاوو ضد تاثیرات د غاښونو د Plaque نرم مواد چې په غاښونو باندي پیدا کېږي د هغې په وړاندې هم موثر تمام شوي دي. په اناروکې فایبر او ویټامېنونه ډیر لوړ دي. په خاص ډول د ویټامېن اي او ویټامېن سي ښه منبع ده. دري واړه تازه انار په ورځ کې له ۵۰ فیصده څخه زیات توصیه شوي. بیټا کروتین Beta – Carotene او antioxidant لري. بیټاکروتین په رګونوکې د plaque ،د لمر د زیان څخه د سترګو ساتل او د ازاده رادیکالونو په غیر فعاله کولوکې چې د سرطان سبب ګرځي مخینوي کوي، بر علاوه ویتامېن A هم جوړوي چې د نظر او د سترګو د غوړ ساتلو لپاره یوه حیاتي ماده ده. انار په مهمه اندازه اوسپنه لري چې د هیموګلوبین لپاره کوم چې په وینه کې اوکسیجن انتقالوي ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸. پوښښي بوټي
## ایا بزگر د عاید لپاره دوهم نبات وکري ؟

ځیني وختونه د انارو په باغونوکې پوښښي بوټي کرل کېږي په بعضي حالاتوکې د اگرانومېکې نباتات، سبزیجات او مېوې ، د حیواناتو لپاره واښه ( Forage ) او غلې دانې هم په باغونوکې کرل کېداي شي. په هر حال نور نباتات به د انارو سره د اوبو او غذایي موادو لپاره رقابت وکړي چې د ونې ، حاصل او د مېوې اندازه کموي ، پوښښي بوټو لکه شفتلي او نور Legumes په باراني موسم کې چې ترڅو اوبه کمېږي گټور دي. دا طریقه د خاوري حاصلخیزي ډیروي خو نور نباتات لکه هرزه گیاوي بیاد یخ وهلو زیان ډیروي.

### ولې پوښني بوټي وکرل شي؟

- پوښني بوټي کېدای شي د باغ تر حاصل ورکولو پوري د عاید یوه گټوره منبع وي.
- د کروندې خاوره ښه کوي.
- د اوبو د ننوتلو نفوذ زیاتوي.
- د خاورې د ښې حاصلخیزی لپاره اوربشي ، او Legumes لوړ ارزښت لري.
- د هرزه گیاو د کنترول لپاره گټور دي.
- د خاوري تخریب کموي.
- ځیني پوښښي نباتات چې په دوراني ډول وکرل شي د خاوري د نیماتود (Nematode) د کنترول لپاره ښه دي .د نیماتود د کنترول لپاره دوراني ښه نباتات ، Sudan grass ، د اوري دانه (Mustard) ، مې , او Cow peas دي.
- په شگلنو خاورو کې وربشې او جودر د سارایي اوربشو (Oat) په نسبت ښه نتیجه ورکوي.

### د پوښښي بوټو زیانونه:

- پوښښي نباتات هم د ونو نوو پاڼو او گلانو ته هغه مهال چې لوړ او گڼ وي د یخ وهلو خطر زیاتوي .
- د یخ وهنې د خطر د کموالي په خاطر ټیټ قدي پوښښي بوټي وکرئ ، مگر واښه مه کرئ ځکه یخني راټولوي او د بکتریاو د رامنځته کېدو باعث گرځي او ونو ته انتقال مومې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په پسرلي کې ګڼ نبات امکان لري د نصواري ورستیدنې ، د شاخونو د سوري کېدو ،سرخۍ ، Mildew او نورو فنګسي ناروغیو لامل وګرځي په خاص ډول کله چې نبات لوړ وي. لکه لوړ غله جات او Legumes، د مثال په ډول Faba Bean.
- د دوبي پوښښي نباتات کولای شي د نیماتود تعداد ډیر کړي. د ټول کال نباتات لکه شفتله کېدای شي په دوبي کې ډیري اوبه استعمال کړي ، نو باید ژمني کلني نباتات وکرل شي.

سپارښتنې **Recommendations**:

- د ژمي پوښښي نباتات په خاوره کې اړول کېدای شي چې د خاوري حاصلخیزي ، غذايي مواد ، او د اوبو نفوذ لوړ وي.
- د خاورې د نایتروجن د سمون لپاره Legumes وکری. لکه ، مې ، نخود ، Bell Beans شفتلې ، Medics او Cow peas وکرئ.
- ددې لپاره چې خاورې ته ګټه واوړي پوښښي نباتات په خاوره کې وابښه کړئ. د نبات هغه برخه چې خرڅېدلای شي ټوله کړئ او نور ټول نباتات په خاوره کې واړوئ چې خاورې ته سره ورکړل شي او خاوره اصلاح شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**